# بسم الله الرحمن الرحيم

دا شعری ټولګه چې (وژاړم که وخاندم )ترعنون
لاندي ستاسو په لاس کې ده ما د دخپل پلار په کتابتون کې
وموندله او له ښاغلي لطيف ياد سره په مشوره مې په PDF
بڼه واړوله چې له ضايعه کيدو نه په امن کې شي.
يادونه: دکتاب ۵۲-۸۲-۸۳-۸۴-۸۵ مخونه
نشته

## دکتاب پيژندنه

د کتاب نوم: وژاړم که وخاندم
ليکوال: غلام حضرت سميسار
چاپکال:۱۳۶۴

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما معذرت ومنئ!

ګرانو لوستونکو د ټروند په خوږو مارو شئ ما خپلې نیم ګرتیاوې تولې په مخکښې کتاب مینه او مناجات کښې لیکلی وې خوبدې کتاب دومره یا د آوری کوم چې انسان ډیر ضعیف مخلوق دی حتما د سهوې او خطا سره مخ کیږي نو که چیرې ز ما په ټربه ، الفاظو یا د شعر په سیلابونو کښې اویاد شعر په قافیه کې اویا ردیف کې اویا د شعرونو په میزان کښې کوم کمې تاسو ګران لوستونکی ګورئ نو ماته په ګوته کړئ ځکه زه دومره شاعریا عالم نه یم چې الفاظمې د صرف او د نحوی اویا د پښتو ادب په تولو اصولو برابر وي . داهم نشی کیدی ولی د دری ټربی یو متل دی چې وائي : „از ریزه چه میخیزه ،، نو زه به څه یم اوزما شعر به څه وي؟ خو مطلب دا چې زما معذرت ومنئ په درناوی

، غلام حضرت سمیسار ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعر، شاعر
# او
# شعري رسالت

دشعر په هکله تراوسه پورې ډېر زيات تعريفونه شوي دي چې يو زوړ يوناني او عنعنوي تعريف يې داسې دی: «شعر هغه وينا يا کلام دی چې وزن او قافيه ولري» په پورتني تعريف کې وينو چې «وزن» او «قافيه» دشعر اصلي او اساسي توکي بلل شوي دي، خو اوس دازاد او بې قافيو شعرونو په رامنځ ته کېدو سره دا ثابته شوې ده چې قافيه دشعر اصلي او اساسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

توکی نه دی. یو بل چا بیا د یو شمېر ځانګړتیاوو (خصوصیاتو) په پام کې نیولو سره، داسې تعریف کړې دی:

«شعر په موزونو الفاظو د ټولنیز (اجتماعي) ژوند د ښښتینې انځور دی». یا: «شعر په موزونو الفاظو د ټولنیزو پېښو بیا ځلي (دویم ځلي) ژور انعکاس دی.»

په دغه تعریف کې ورته ګټه د پېښو د دویم ځلي انعکاس ویل شوی دی چې شاعر لومړی له یوې ټولنیزې پېښې او واقعیت څخه متاثر شوی او بیا یې د خپل احساس او تخیل د قوت په ملتیا، نورو ته وړاندې کړې دی، چې په دې بیا ځلي انعکاس کې د شاعر مفکوره، احساس او ادراک غوڅ (قاطع) رول لري.

همدا رنګه یو شمېر نور تعریفونه هم شته چې دلته د ټولو یادونه ضرور اصلي موضوع او بدوي په لنډه توګه ویلای شو چې د شعر له پاره دا لاندې څو توکي ډېر ضروري دي:

۱: وزن او اهنګ، ۲: احساس او ادراک، ۳: تخیل (شعریت)، ٤: ژورتیا ــ

دلته د شعر له پورتنیو یا دو شویو توکو سره له څېړنې او تفصیل څخه تېر ېږو او داسې یوستنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځي ته کـــو وچې «سبه شعر» او «سبکلي شعر» کوم دی؟

بنايي ځيني خلک هغه شعر سبه او سبکلی وبولي چې هغه دا دبي فنونو له مخې په وزن او قافيه برابر وي او ټول شعري تلازمات، بديعي صنايع او د شعر فني مهارتونه پکې کار ول شوي وي. دا هر يو په خپل وخت او خپل ځای درست او دي، خو دا او سني عصر ته پوره، صحيح او بسم ځواب نشي ورکولای.

نن مونږ هغه شعر ته سبه، او «سبکلی» وايو چې خلکو ته سبه او سبکلی پيغام ولـــري، او کوم شعر چې نور وته دا ډول پيغام ونه لـری ديو چا په عقيده: «يوازې دا نه چې د بې پيغامه شعـــر شاعـر په هغې بې ځايه خپل وخت تېرکړی دی، بلکې زمونږ وختونه هم د هغې په لوستلـــو او اورېدلو بې ځايه مصرف کړي.»

دا خبره سمه او رښتينې ده، دا سې شاعران هم وي چې د هغوی دبې پيغامه شعـــر و نـــو. جنازې د هغـــوی ترمـــړ ينې پخـــوا پوره شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه خبره دا ده چې په شعر کې له شعريت او وزن سره جوخت د پېغام مسله ډېره مهمه ده، ځکه چې يو ليکوال ويلي دي: «شاعر د ټولني له عادي انسانانو څخه مه ګڼئ! د ده مقام د ټولني له نورو او سپېدو نکو څخه ډېر لوړ دی.»
هوکې! شاعر په ټولنه کې له خلکو سره يو ځای اوسي خو د هغه احساس او ادراک له نورو سره توپير لري، ځکه چې دی په ټولنه کې هغه څه وينې چې نور يې نشي ليدلای. هغه څه چې ټولنه او خلک ورسره لاس په ګرېوان وي د شاعر پر احساس ژور اغېز (اثر) ښندي او بايي د تخيل په ملتيا د شعر په ژبه نورو ته بيانوي.
معلومه ده کومې خبرې چې د زړه له تل څخه راپورته شوې وي، په غوږ و نوسني لګېږي او په لوستو نکي او اورېد و نکي هم هغسې اغېز کوي. کوم چې شاعر د هغې د ژور تاثر له مخې دې ډول وينا ته اړ و لی (مجبور شوی) دی.

کله کله شعر او ادب ته د ټولنيز (اجتماعي) ژوند هينداره هم ويل شوي ده او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ځکه هغسې چې هینداره عموماً شکلی او بدرنګ هرڅه په خپله بڼه ځرګندوي، د غه رنګه په شعر او ادب کې هم د ټولنې ښه او بد، لوړې او ژورې په ښه توګه انځور شوې وي. خو لکه څنګه چې د عادي هیندارې د ننداره‌یوالې او یوازې د شیانو په خپله بڼه ښودنه ده، خو د شعر او ادب هینداره د ټولنې د ښو او بدو د ځرګندولو په څنګ کې د خلکو په وړاندې یو بل مهم رسالت هم لري او هغه دا دی چې خلکو ته د خپلو بد مرغیو عامل او له منځه تلو د ښه غوره لارې هم ورپه ګوته کوي، او هغوی په ژوندې پر مخ تګ، بدلون سمښت او سازښت ته هڅوي.

د شعر، شاعر او شعری رسالت په ارتباط د خپلو خبرو لړی په همدې ځای ختموم او په پای کې د دې شعري مجموعې په هکله وایم چې:

د ښاغلي سیمسار صاحب د ملي او اجتماعي شعرونو دا دویمه مجموعه «وژاړم که وخاندم؟» چې ستاسي مخې ته پرته ده. په دې مجموعه کې زموږ د ټولنې او خلکو اوسنۍ حالت په عیني او واقعي بڼه انځور شوی او د یو ملي او اولسي شاعر په توګه یې د قلمي جهاد په ډګر کې خپل شعري رسالت د بریښه سرته رسولی دی.

په درناوی
ش.م. رنځور
پېښور - صدر - ۱۳۶۴ د لیندۍ ۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# حمد

هم واحد او بې شریکه لوی دی شان دی
چې یو نوم دې په نومونو کې سبحان[٢] دی

لمر سپوږمۍ دې نښې د قدرتونو
بې د ستنو ودرولی دې اسمان[٢] دی

حقیقت کې ته مالک د دواړو کونو
که په حکمو اسمانونو[٣] کې عیان[٢] دی

د مخلوق په سینه روح کړی ورد ننه
هر مخلوق دې په جدا لسان[٣] گویان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیدا او د فنا اختیار دی خپل د ئ
ته خالق یې د مخلوق داسې بیان دئ

چې په ورځ کې د محشر حساب کتاب شته
هغه وخت مې په وجود باندې لرزان دئ

ستا په لطف او کرم به اسانېږي
هغه کار چې لویه خدایه خومره ګران دئ

زه ستمګار د ګناه ډوبېږم په دریاب کې
واسطه مې ستا په در اخر زمان دئ

ن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نعت شریف

چې د چا صفت خدای کړی په قرآن دی
چې سنګاره لکه د لمر په ټول جهان دی

ما یې نوم نه صدقه سپند سپیلنی کړی
چې یې نوم د محمد آخر زمان دی

هسې څګ مقام ورکړی خپل خالق دی
چې په واړو انبیاوو کې سلطان دی

که موسی په کوه طور کې کړی راز دی
اقا کړی ملاقات په لامکان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په ورځ کې د محشر به شفاعت کړي
هغه دوست، هغه محبوب د پاک سبحان دی

خوږمره کران، خوږمره نازبین په پاک الله دی
په خاطر سچاپید اچې دا جهان دی

که تورات، انجیل، زبور دی نازل شوي
نازل کړی خدای په ده باندې قرآن دی

که ستمګار کا مه وال کړ د غم ګرداب کې
پېغمبر امام د مرسلانو پې جانان دی

○○○

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تور زلفان کج

په سپین مخ دې ځومره زیب کا تور زلفان کج
په نظر د عاشقانو دي ماران کج

خپله ګل یې ګلدستان ته څه حاجت دی
ستا رخسار ته په تعظیم دي تول ګلان کج

کج رقیب او کج غماز شته په جهان کښې
خدایه مه کړې عاشقانو ته یاران کج

کړې ورځې کړې توري د ایران دي
ګڼه اوښکې مې را دروي په کړېوان کج

یو راتګ د عزرائیل زما په ځان شي
چې راپورته کړې یو ځل دوه چشمان کج

په صورت مې زلزله تبه پیدا شي
ګرفتار مې شي زړګې په یولړزان کج

ډېره هسې مې په تن باندې پیدا شي
لکه وي څوک لاهو شوی په طوفان کج

په دقیق صورت اشعار لیکه ،سمیسار،
شته جهان کښې موی شګافه شاعران کج

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱

# په دُنیا کې جنت

په دنیا کې که جنت دی خو وطن دی
پس د دېرو معلوماتو دا سخن دی

که دخمکې په مخ چاپ وار ه جهان کړه
معزز او محترم بې خپل مسکن دی

که دنیا کې بحر و بر باغ وچمن شي
نما زړه کې د وطن باغ وچمن دی

که خو لک با عث د ګل ګلشن کوي خبرې
نما ذهن کې فقط هغه ګلشن دی

که بل ملک ته خُتن وایي سهوه کړی دی
هغه ملک د افغانانو جوړ خُتن دی

که زاغان د بلبلانو په جوړ ګړه
مخ بې ستو رشه نن سبا پې ستری رفتن دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته پاتې نه انګرېز او سکندر شو
هر اغیار لره اغوستی دې کفن دی

دا متل دی د نړۍ ور کلي کله کېږي
ورته ګوره د زاغانو ځنکدن دی

هر تیکه یې مونږه د هر دښمن سته
هرې ستمې تسبتولی هر دښمن دی

پاکه خاوره پاک وطن افغانستان وه
نن قبضه پرې روسان قوم ځپن دی

دا زمونږ د عملونو نتیجه وه
چې خفه را نه خالق غني څښتن دی

که نفاق وکړو دې زمونږ کار وه
نن جبران ئې دی راغلی تن په تن دی

بسم الله په اتفاق ساندې راټول شئ
داسې سوال، داسې زارۍ، داسې ګفتن دی

تور زاغان د وطن وباسئ په نعره
د افغان خوازادی او بیا کُشتن دی

که شئ پاتې اسارت مهاجرت کې
بیا لایق دا ستا په سرخاورې لوستن دی

دا يکمړی شملې به پرېږدو جينکو ته
سور سالو مې له نا کامه اغوستی دی

نوم به ورک د افغانانو په جهان شی
بيا به څه کړم که وجود مې خوږ وپلن دی

دا مصرې په وينو سرې ليکې ستمگر دی
سپينه ورځ یې په چشمانو کښې خفتن دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنګه غاړه

ستا د مخ په رڼا زیست روزګار زما دی
ستا د حُسن په الفت سرشار زما دی

نه چې هسې تازه دم لکه ګُلاب یم
ستا د مینې په وفا اتبار زما دی

هره ورځ مې د اختر شپه مې برات دی
خوشحالي ده که خندا روزګار زما دی

چې مې ګوتو ستا د زلفو مسه وکړه
د دنیا د هر ماتم اِنکار زما دی

ځانله نه یم چې په ګوته شم جهان کې
چې عالم کړي صفت نِګار زما دی

هر شاعر یې په صفت دی سترې شوی
سروی قد، ګل اندام دلدار زما دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي سيل بين بې د سيني ږبا غيچې شوم
هغه سُنبلی د نکه غاړه یا ن زما دی

که سیمیښتگار مې تخلص دی عربي کې
منځه کړی په پښتو شعار زما دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه وطن خوموریمه

زه وطن خومور یمه دستاسو قدردان بچو
کرم کړئ جهاد په ما ای دلوی افغان بچو

زه په درد وغم کې د ظالم په ظلم ګیره یم
ماځنې ځانونه کړئ په هسې رنګ قربان بچو
کرم کړئ جهاد په ما ای دلوی افغان بچو

زما په ازادی کښې بهر خوند ونه اومزې شته ئې
توره ټوپک واخلئ د ښمنان کړئ ګریزان بچو
کرم کړئ جهاد په ما ای دلوی افغان بچو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه چغه په یو اواز ازاده مې له بنده کړئ
پر ېدئ نور کار و نه په ما گران بچو
گرم کړئ جهاد په ما ای دلوی افغان بچو

ستړګی خښکه پورته کړم دنیا او دنیاوالو ته
لوېږ ی د حیا نه مې په ځمکه د اچشما ن بچو
گرم کړئ جهاد په ما ای دلوی افغان بچو

نه ستاسې وطن یم حیثیت هم دیو مورلرم
ما کړئ ښهستارته هسې رنګه د ابیان بچو
گرم کړئ جهاد په ما ای دلوی افغان بچو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کچکول

چې کچکول مې شو پېغاره ګدائي کړم
دخوبانو شو نسترګو سودائي کړم

چې ماله ته داشنا په کوم هنر ځم
هغه شپه په استغنا رکې سبائي کړم

که زه وسېنم خپل یار ته چې پرهر دی
دغه کار به زه په ژوندکې تنهائي کړم

څوک يې زلفې کړي زړندي څوک يې ماران کړه
زه يې خپل قاتل په ژوندکې مدائي کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زه نه مرم ستا له غمه به هلاک شم
توکل په پاک الله چې اکائي کړم

دا قانون دی چې غوټۍ د اُومید په ستر کو کوری
ستا د مخ شعلو ته خندکه بینائي کړم

انتظار ما د سترګو نظر کم کړو
یو دیدن به دې د سترګو ښائي کړم

که پتنګ په شمع ځان سو ځول غواړی
زه سیمتار هم په دې شغل آشنائي کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دیدن

خنکه ښا پسته ښکلې ښکاریږي د ګلونو سره
زلفان یې زیب که په سپین مخ د شنو خالونو سره

نازې غاړه په قدرت د هغه چا جوړه ده
خپله قادر دی په قدرت د قدرتونو سره
زلفان یې زیب که په سپین مخ د شنو خالونو سره

زه دې صفت د تورو سترګو جادوګرو وکړم
یا دې لبان په قلم ښکل کړم د شکرونو سره
زلفان دې زیب که په سپین مخ د شنو خالونو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



په انتظار کې یاره ستا لکه د بنګو ډکې
شومه بزباد په حال خراب د شوګیر ونو سره
زلفان بې زیب که په سپین مخ د شنو خالونو سره

ستا په دیدن به شم تازه دګل وهلو په شان
زړه تازه کړی په دیدن د دیدنو نو سره
زلفان دې زیب که په سپین مخ د شنو خالونو سره

دکامه وال شیمتار سلامت ته یو ځل لاس پورته کړه
سودا مې نشته دجنت او د ورخونو سره
زلفان دې زیب که په سپین مخ د شنو خالونو سره

# قلم

چې قلم په لاس کې واخلمه حیران شم
چې څه و لیکم په کومه لار روان شم

لېونی شوم د خپل ځان سره کړېږم
د وطن د غمه دم په دم ژړېږم

شپه او ورځ مې سر و کار وهم چرته ترنه
را غلهٔ خدایه په مونږ خر تکه وخت

مونږ نه پاتې لکه ګل غوندې وطن دی
چې د ټولو افغانانو یو مسکن دی

دا هله وکې مې د پلار او د نیکه دي
پاتې شوي چې زما هلته پرانه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوله مې ماته شه په دې خوله چې خندېږم
که مړ نه يمه په مړو کې حسابېږم

حقيقت کې موږ ورونه افغانان يو
ځکه دا چې موږ ټول مسلمانان يو

يو مو دين يو مو مذهب يو مو اسلام دی
موجوده په دې حالاتو ستاسو پيام دی

يو وطن دی يکې شل دی حکومتونه
لوی ګرداب کې د نفاق وهو موجونه

دا سې وشي د ښمن پاتې سلامت شي
زموږ منځ کې يو د بل عداوت شي

غوا ولاړه چې ځانګ ورته تيار شي
چې خوشحاله په دې کار باندې اغيار شي

په مرګ خوښ شم چې له دې حاله خبر شم
ځکه شمع ويلې کېږمه ابتر شم

موږ وا يو چې کاميابه دې جهاد شي
دا وطن دافغانانو دې ازاد شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې یو موټی مستحکم یو اتفاق شی
کړه بار زموږ د منځه د نفاق شی

هر یو کار په اتفاق او په جرګه شي
چې نفاق زموږ له منځه اواره شی

پاک قانون زموږ په کړه یو قران دی
انتخاب په اتفاق کار د افغان دی

مرګ خو حق دی په هجرت کې مې مړنه کړي
بدخواهانو ته مې خدایه چې پرنه کړې

زه ستمګار ریم آزادي زما ارمان دی
دا ارمان د هر افغان زړه کې ارمان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپلنی

په فکر ونو په سوچونو لیونی شوم
لیونتوب خو څه یې عار ندی خندنی شوم

که مې عُمر د ځلوېښت ـ پنځوس ترمنځه
په محفل کې د رندانو سبانی شوم

عمر نه دی لکه باد هسې تېرېږي
زما خیال لکه چې اوس لس کلنی شوم

نه په مال او نه په عمر مې بدل شته
یو چکر لکه د فلم سپیلانی شوم

تنگ را تنگ په سترگو گورم په جهان کې
مرگ ته غاړه ایښودو کې تکنی شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تش په نوم ستاري وهم چې حق شناس یم
حقیقت کې د دې نوم نه سپېلنی شوم

مدحه خان د زمانې په رو رویش کې
نه لقمان او پخمان چې بولان شوم

زه سیمسار منکر کېدی د گناه نه شم
مبتوعث نه گنار گار نه سپېزنی شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زلفانۍ

ستا تورې زلفانې په ما ګرانې دي
ګرانې دي محبوبې په ما ګرانې دي

تار دې د زلفانو جوړ اجل ښکاري
ما ته بې اندازه قدردانې دي
ګرانې دي محبوبې په ما ګرانې دي

سر به ورته ښکته کړي سنبل د ګل
لاس ته را ستل کله اسانې دي
ګرانې دي محبوبې په ما ګرانې دي

زیب کړي دا زلفې اشنا ستا په مخ
او ښکې مې د سترګو نه روانې دي
ګرانې دي محبوبې په ما ګرانې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګوره ستمګار ته چي تمه لي دي زلفانو دي
دا غزل دي ميني کسه د ميني اداګاني دي
ګراني دي محبوبو بي په ما ګراني دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وطنه!

زموږ قبلې زموږ مکې زموږ ایمان وطنه!
زموږ ننګ زموږ غیرت زموږ ځان وطنه!

ته یې حیا ته یې ناموس ته یې جنت د افغان
ته یې شرف ته یې شمله ته یې عزت د افغان
ای د خوشال او احمد شاه او میرویس خان وطنه!
زموږ ننګ زموږ غیرت زموږ ایمان وطنه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول اولسونه پوره شوي ازادۍ د پاره
سر ونه ټول نذر کړي د خوښۍ د پاره
ستا ازادي زموږ ارزو د پاک سبحان وطنه!
زموږ ننګ، زموږ غیرت زموږ ایمان وطنه!

ستا په اغیار و ملحدانو سر و روسانو بندي
حلقه په غوږ و کمونستو غلامانو بندي
هره حمله د مرګ استا ځي دي جانان وطنه!
زموږ ننګ، زموږ غیرت زموږ ایمان وطنه!

نه یو د شرق او نه د غرب وطن ازاد غواړو
موږ په توره په قلم هسې جهاد غواړو
ټول افغانان به مال و سر کړي در قربان وطنه!
زموږ ننګ، زموږ غیرت زموږ ایمان وطنه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د اغیار د ور اول وار، دویم وار، دریم وار نه دی
دلته، چنګیز او نه انګریز او بل ایستلی دی
وخت خوب او خلی خوړ ده فتحه د افغانستان وطنه!
زموږ ننګ، زموږ غیرت، زموږ ایمان وطنه!

دا دی کید ونکی ازادی او استقلال دی زموږ
په جهانی ستیج کښې د ا قبال دی زموږ
شي به څنګ ستوري امریکا او هم روستان وطنه!
زموږ ننګ، زموږ غیرت، زموږ ایمان وطنه!

وای ستمګاره چې شوی ازاد بیا به قدم کیږدم
په زخمي زړه به ستا د وصل جوړ ملهم کیږدم
ای دا دی او د بابا افغانستانه وطنه!
زموږ ننګ، زموږ غیرت، زموږ ایمان وطنه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژوندون

چې دې راکړلو يو څو ورځې ژوندون
هغه هم شولو هوسۍ په تېره توګن

کله درد او کله غم او کله رنځ وي
دا ژوندون دی که مرض دی د تاعون

يو بې غم به په انسان کې پيدا نه کړې
که جهان ورپسې چاڼ کړې يون په يون

که ثابت دې څوک بې غم کړ وا شطان ته کې
هسې وايه چې حيوان دی په مضمون

څه کړمۍ او څه يخنۍ او څه نيستي شوه
عمر واړه شولو تېر په يو جنون

کله جوړ کله ناجوړ لې هسې بو يه
چې ژوندون ورځنې جوړ شي د مجنون

ای ستمګاره توري خاورې په سر تو له
پسا تې د ربا سندې وکړلې ملعون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رحم !

د زړګي صبر مې نه شي برابر د رحم
که په پښو مې څوك وهي زه به په سر د رحم

ګلې کور ړا ته داوړغونده شو
ګلابي رنګ مې تك تور غونده شو
ستوګل زما په خدای چې یو چکر د رحم
د زړګي صبر مې نه شي برابر د رحم

رنګ مې زېړ لکه زعفران شو مه زه
بې لګانه په جهان کې سرګردان شومه
سوځېدلی یم په اور سوی ځیګر د رحم
د زړګي صبر مې نه شي برابر د رحم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زخمي زړه مې پټ د خپل وصال کېده
یوه نښه مې په زړه د خپل جمال کېده
لاس وښې مې دي ښکلې په بڅېره د رحم
د زړګي صبر مې نشي برابر د رحم

کامه وال ستمګار به کله ستا رفیق شي اشنا
چې شعر و شاعرۍ کې ښه دقیق شي اشنا
دم په دم به دې سلام ته هر سحر د رحم
د زړګي صبر مې نه شي برابر د رحم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آرزو

ای زما پښتنو وروڼو عزیزانو
ای زما دسترګو تورو په ما ګرانو

اجازت دڅو خبرو راکړئ ما ته
چې په نظم ئې تحریر کړم وایم تاته

پاتې شوی د کاروانه چې پښتون دی
ځکه حال ئې په نړۍ کې نن زبون دی

څوک رضا د اتفاق نه په نفاق دي
بعضې یو د بل لید لوته مشتاق دي

څوک د حرص و په نیشو کې شو غرقاب
زړه مې ځکه د دې غمه شو کباب

څه مو شو په پوپروکې مصروف
خرڅوی د کور کالي وي که ظروف

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک د ننګونه چار تخم کړي تيار
چې روغ ځان کړي لېوني وايم په جار

بعضې شولو په اپين باندې عادت
خدا نيه ته وکړې پښتون سره مدت

څوک په شرابو نيشه هسې پراته دي
چې بيو شي ورته سنظر کښې لس اته دي

د چا لاس کښې سګرټان چې کل وبل شي
وي بې فکره که لاسونه يې جل بل شي

بعضې شولو نصوار يان کوي نصواره
څوک قوتر کښې لګوي غمي په شمار

څه حصه د تماکو شول چلميان
بې چلمه اشنا نه کوي ګذران

پاتې شوي جوارګر وايمه حال
صرفه نه کوي زما اوستا په مال

د چا پښو کښې وي زنګونه کوي شور
صد افسوس دی په هسې پلار رور

(c) ketabton.com: The Digital Library



سود خور نشته په نړۍ کې په بل قام
که نظر وکړو لږ موږ په خاص وعام

څوک ملنګ شي د فلانکي بابا ملنګ یم
روغ او جوړ یم خو پیسو پسې پتنګ یم

په آخره کې چې دوی شي لیونیان
زیارتونو کې پراته وي مو ظړان

خدای د پاره لږ په فکر کې غرقاب شئ
دې کارونو د فساد نه اِجتناب شئ

خپل اولاد په سمه لاره تربیه کړئ
ور په لاس د خپل اُصولو سیهه کړئ

د نفاق په اور به سو ځو چې یو نه شو
د دنیا په هیڅ خوبو به ماړه نه شو

لږ سر ونه خپل ګریوان کې ور دننه کړئ
تورې شپې نه څه علاج د سباوون کړئ

نفساني خواهشات پرېږدئ وطن یاد کړئ
دایمان په جذبو باندې جهاد کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازادي او استقلال نوموړ، حق دی
دغه نوم د هر انځان څخوله کې سبق دی

نه سیمینار کامه وال وایم لاس ځیت کېږي
سبه دوا دانادی دلوی نخمت کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خبرې

د زړه په سر مې دې لیکلي د اشنا خبرې
ماته مُجرا دې په وفا کې د جفا خبرې

زهر و قاتل راته د یار د لوري شهد و شکر
کله لوېږي زما زړه باندې د چا خبرې

د یار رنځ ماته مَلهم لکه د زړه د زخم
زما مرض ته صرف پوازې د لیلا خبرې

مینه خواوره دی په دې اور کې سوځېدلی خوښ
زما په ژوند کې دي د رمان دلربا خبرې

خبرې ډېرې خو چې زړه زما خبرې غواړي
هغه څونېې ـ خوږې خبرې یاره ستا خبرې

خبرې به دې زما رنځ ته یو دوا جوړ شي
ما ته پکار دي خپله یاره د دوا خبرې

خبرې اورم رنګ په رنګ په خپل غوږونو باندې
خبرې ستا شوې زما یاره د عنقا خبرې

د کامه وال ستمګار زړو څه بدلېدلی نشي
که په جهان کې شي په شمار لس او اتیا خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ریدګ

ستا په مینه کې سوزېږم بد مې حال دی
چې په مخ دې نن د تورو زلفو جال دی

نرګس سترګې کتې نشه په سترګو
مخامخ ورته لیدل د چا محال دی

نرۍ پوزه د الو انګی سیب دی
ببر سر خیرې کړ بیان دغه مې حال دی

که دې نوم دیا قوتې لبانو واخلم
خال د زنې مشترې دی او که خال دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلتانه دې هسې ذبحه زما زړه کړو
چې د يو او د وه و يلو څه مجال دی

نه پوهېږم چې د دواړو به دا حال وي
که زما غريب په برخه د غه حال دی

خلک عشق کې خوشحالي خندا هوس که
مګر ما ته خدای پېښ کړی دا جنجال دی

زه ستمګار به د رته فرش ستر ګې به لاړ کړم
که راشې دې يو د يدن زما په خيال دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتنه پېغله

زه پښتنه پېغله نيت مې کړی څو ګيلو ته دی
سور سالو په سرو لاسو نيولی مې زلوګړ دی

يا ځئ ورورو تو يا ځئ چې غزا ته ځو
هغه د وطن ښکلی هوا ته ځو
سره لا سونه، توره پېکی مې سوال دی پرګنو ته دی

پېغلې جمعه شوې د جهاد په نوم
خپلو ځلمو ورورونو د امداد په نوم
لوی لښکر جوړ شو کې سردرو ته دی

. . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا به د اغیار و اوازغلی کړم
یا به د تور اوبل د خاوره وخلی کړم
بله خوشوک نه یم شان شوکت مې ملا لو ته نه دیږم

د توري ستړګی سره لبان به څمه دخوښی سره
بنه د توپک مې خوښ دی چلولو کې جلتی سره
څه چې څو ستیمګار ؏ غوږ مې ستا د غه مصرع وته دی
سور سالو په سر ولاسو نیولی مې زلمو ته دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جانان نښته

نوم دیار او د رقیب دی جانان نښته
خاص د ښایسته بازان دی یاران نښته

دوست هغه دی چې د دوست د سر نه زار شی
که جهان ورپسې چاپ کړم دوستان نښته

یو د بله په رندی او حیا لاکی کې
خاص د خدای د پاره هېڅ محبان نښته

د مطلب د پاره ټینټ او کلـه جګ شي
دغه کار دی د تا هلو سیالان نښته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې دهر د يار انو که خير غواړې
موجوده په دې بازار دا دوکان نشته

وفادار به يې کله چې بې وفا شي
هسې علم کې وارد خو انسان نشته

که دوستي که يارانه خو چل اوول دی
دا نقصان زما او ستا د زمان نشته

د سيمستان اشعار که داورې پند به واخلې
په لوستو د دې کتاب کې تاوان نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اشنا ته!

اولو ورځوکې خو د ومره زيات نيارنه وې
نږېو زينت ، په لباس هسې سينګارنه وې

داکومه وجه ده چا غېږي ولې ؟
دا دومره زيات وانيه پرسېږي ولې ؟
داشوه معلومه چې حرامونه انګارنه وې
نږېو زينت ، په لباس هسې سينګارنه وې

خپله خوشحالي شوې د بل غم نلرې
په نږه څنو رحم په قسم نلرې
ماخو پخوا کتلي وې چې اختيار نه وې
نږېو زينت په لباس هسې سينګار نه وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وختونه تېر دي که یاد
پکې تېر نه دی محیاد

یو په زړه برخه دومره ګلانګارنه وې
زېبو زینت، په لباس هسې سینګارنه وې

ویل لیکل دي زموږ
څه پوهول دي زموږ

مخکې د نګر وې هسې سورلکه انارنه وې
زېبو زینت په لباس، هسې سینګارنه وې

که وار دي تېرشي اشنا
خیانت دې کېږشي اشنا

خوښه دې خپله په ګفتارچې د شیمشګارنه وې
زېبو زینت، په لباس هسې سینګارنه وې

. . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپینه ده !

سپینه لکه ګل ده هسې سپینه ده
ځنګه سبه سبکاربږي چې حسینه ده

و یې کتل ماته په خوږ وسترګو
مینه مې په زړه کې مینه مینه ده

هر قدم رفتار یې جوړ د زړه کوي
روح قلب و وجدان ته مې شرینه ده
ځنګه سبه سبکاربږي چې حسینه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه ناز و ادا کړي کرشمې
ژان د محبت کښي ښه ګل چینه ده
څنګه ښه ښکار بڼي چي حسینه ده

لاړو د ګو ګل نه د ښیښتار نه ګي
وړی هغه چا چي ناز نینه ده
څنګه ښه ښکار بڼي چي حسینه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوه برسونې

ټیټ شه پښتو ته ولو بره که ځان اوچتول غواړې
دوه برسونه جیب ته کړه که ځان ښوکرول غواړې

وا به خلق ماشوم په لاس دوه ورته ښکیږي واخله
بنې منګلی جامې ورله، یو ورته واسکټ واخله
زه خوښه یې هیڅ نه کړم د جناب خوشحالول غواړې
دوه برسونه جیب ته کړه که ځان نوکرول غواړې

نه کوم لیاقت یکار، نه سند تحصیل کړی
ښه به غوړ مالو عادت هسې رنګ اصیل کړی
دم په دم پالش کوه که یار د ځان کول غواړې
دوه برسونه جیب ته کړه که ځان نوکرول غواړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه څه مېړنۍ شته دی ، نشته دی بل کار په تا
څه چې دا جناب وايي دا به وي روزګار په تا
هرڅه د رېښې که په خپل نوم تنخوا کول غواړي
دوه بړسونه جيب ته کړه ، که ځان نوکرول غواړي

دلته دا قانون دی اوس دې خوښه پکې خپله ده
ولې څه سکوت کوې ، دې کې ګیله څه ده
وربه شم ستمګار ته چې ته ځان رسوا کول غواړې
دوه بړسونه جيب ته کړه ، که ځان نوکرول غواړې

. . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملهم

خدای د یاره د زخمي زړه مې ملهم شه
خپله یاره لین زما سره همدم شه

جدائي دې جو پر سفر دی په ژوندون کې
څه پوښتنه مې د حال وکړه صنم شه

که نظر مې د چشمانو په رفتار دی
حرکت مې ستا په لوري هر قدم شه

چې ستا ستر ګو ته په بد نظر کاته که
تف لعنت په هسې رنګ هغه آدم شه

که غمونه مې په سر اوري باران دی
خوشحالي ستا په ژوندون کې مې هرماتم شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دې حُسن ته په بدو سترګو ګوري
هغه سر هغه چشمان دواړه په غم شه

هره شپه دې شه د قدر خپله بیاره
په اختر بدل دې ستا هر صبح دم شه

که یو دم دا ستا د یاده شم بې فکره
د سیمستګار نړۍ بوټه - بوټه قلم شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اشنا سترګې

څه کرم خدایه څه کړم دا ښا سترګې
نشتم پرې لیدلی د اشنا سترګې

دې سترګو نه یې سترګو خوشاله یم
نه یې هسې ژوند خدای ومالله یم
سترګو ته مې مخ کړه ښې حفا سترګې
نشتم پرې لیدلی د اشنا سترګې

کله زه خوشاله یې د یاره یم
غم سره اشنایم ناقراره یم
نه کې مې ارمان د دلرباسترګې
نشتم پرې لیدلی د اشنا سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې خو په سترګو کې د سترګو شي
یو څفه او چیته د دې عنبر ګوشي
د و سترګې د د وه سترګو د واسترګې
نشته پرې لیدلی د بل چا سترګې

برخه د سیمسګار د ه کامه وال څي دي
ژوندي په آخر دي پر زوال څي دي
وخت د څنګه ن کې را ښکاره کړه سیحالسترګې
نشته پرې لیدلی د بل چا سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوال و ځواب

وا وره جلې وا وره زه دې حُسن د بوانه کړمه
سوزې مې په اورکې جلې زه دې پروانه کړمه

ج : ځه هلکه لاړ شه ته زما د مينې سيال نه يې
زه چې تا ته ګورم ته لايق مې دجنال نه يې
بې موجب دې زه هسې په لاره کې ستانه کړمه
سوزې مې په اورکې جلې زه دې پروانه کړمه

س: زه خو يو زلمی يم ولې ما ځني نفرت کوې
څومره دې توهين کړمه ولې عداوت کوې
ستا نبګلۍ ژوندون به د سرو زرو خزانه کړمه
سوزې مې په اورکې جلې زه دې پروانه کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خ : نه پښتنه پېغله تور اوربل او سره لبان لرم
مینه د وطن دا نادیه زړه کې ارمان لرم
پته پټه ژاړم د ژړا سنه کړمه
سوزې مې په اور کې هسې رنګ دې پروانه کړمه

س : ای زما محبوبې زه قسم په کردګار کوم
ټېمدستې روان یمه جهاد ته دا اقرار کوم
آزاد به خپل وطن کړم یا به سر دا نه وانه کړمه
سوزې مې او رکې جلې زه دې پروانه کړمه

خ : ته چې ځې جهاد ته زه د ستا هغه لیلا یمه
ته چې کوې دا مینه زه په تا شیدا یمه
وطن که دې آزاد کړو زه به یا زلفې شانه کړمه
سوزی مې په اور کې هسې رنګ دې پروانه کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ت: لا رمه محبوبې ستا دُعاته انتظار کوم
ستا مینه په زړه کښې په د سنمن بهکونار کوم
هیر ه به حیات کې کله ستا هغه تانه کړمه
سوزمه په اور کې جلي زه د ې پروانه کړمه

ځ: که راد ې و ړه ګلان دا نادی زما د پیا ره
بیابه د ې میلمه کړمه زما د مینې یا ره
د ربه د سوکو ښو نله وسرونه شکرانه کړمه
سوزمه په اور کې جلي زه د ې پروانه کړمه

س: بیا که د ې رایاد شي کا مه وال شمیشا ر
هغه یو غریب سنګر شوا ی وال شمیشا ر
بتوله شاعري قلم کا غذ به نذرانه کړمه
سوزمه په اور کې جلي زه دې پروانه کړمهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بُلبُل

په نا روچي د بلبل نشي بیدا رته
څه بي لاس به شي پخپل عهد اقرار ته

د پر پیچو مي دي په محکي کوزا وپاس شته
دشیطان د وسوسونه شوی بېزار ته

چي جواب د یوکوهتوال کولی نه شي۔
بیا به څه کړي په حضور د پاک غفار ته

دلته تا لره اختیار دی که ښه بد کړې
هلته هیڅ نه شي کولی خپل اختیار ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته بنده شي په دروغو باندې ژبه
حقیقت خپله سنکاره به کړي په جارته

یو نېژه کښې وي دلمر وړانګې رابکته
دکوم بد و به څرنګ وکړي انکارته

د عمل پرچه په لاس کې درله را شي
که ولي وی که بد اوکه فنکارته

زه شیدا ګنا رخو ګناکار یم لویه خدایه
عفوه وکړي په خاطر د پاک رویدارته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تاریخ

نوم مې په تاریخ کې د افغان او مسلمان دی
لااله الا الله د مومن ایمان دی

شېبه زرن تاریخ مې په نړۍ کې لوی مقام لري
څلور کڼه د دنیا ورته په مینه احترام لري
هسې ځلېږي و تکی لکه لمر چې په اسمان دی
لااله الا الله د مومن ایمان دی

زه تربیه شوی په زانګو کې د غیرت یمه
زه خو افغان یم چې لایق د هر صفت یمه
میدان د سربازۍ کې مومن ورکړی امتحان دی
لااله الا الله د مومن ایمان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته مور قبضې د «پانی‌پت» او دغز اکبري
داللو - للو په ځای یې ماته سبق صفا کړي
تورن. که توپک دی ننګ ناموس د مسلمانانو
لا اله الا الله دا زمونږ ایمان دی

پاکه عقیده ده شمګار او کامه والې سره
داخو بنه ارزو ده د غریب سنګر سرکوالې سره
شپه او ورځ مې سوال د ازادی له پاک سبحان دی
لا اله الا الله دا زمونږ ایمان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اِنتظارُ

ستړې انتظار شو په کتو کتو
زړه زما پرهار شو په کتو کتو

راغله بیر ته لاړه په دې لاره کې
ګل وه ما ته خار شو په کتو کتو
زړه زما پرهار شو په کتو کتو

مسته وه دلداره دلبر یا زما
ورک د زړه قرار شو په کتو کتو
زړه زما پرهار شو په کتو کتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې مې په زړه کې ارمانونه دی
ارمان خال و رخسار شو په کتو کتو
زړه زما پر هار شو په کتو کتو

وار به دې خدای تېر که د حسين اوربه
کم نظر ستمګار شو په کتو کتو
زړه زما پر هار شو په کتو کتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وطن وطن به وایم

# وطن وطن به وایم

زه چې پیدا شوی یم په کوم ګلوګلشن کې
وطن ـ وطن به وایم سلګو د ځنګدن کې

وطن خو زما کور دی هم مې کور هم یې ایمان ګڼم
ځان د خپل وطن بولم وطن هم د خپل ځان ګڼم
خاپوړې مې دي کړې د خپل نیکه مسکن کې
وطن ـ وطن به وایم سلګو د ځنګدن کې

وطن ازاد ومه شکر زه هسې ځوانان لرم
عزم چې فولاد د لري هغه اَتڼګاڼ لرم
راولی سپرلی به زمونږه په چمن کې
وطن وطن به وایم سلګو د ځنګدن کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سل کاله ژوندون نه ثانیه دا نا دی بنه ده
سل ځله بهتره ځنکدن کښي تری سلکی بنه ده
وګوره شاعره کم وزیات مې په سخن کې
وطن وطن به وایم سلګو د ځنکدن کې

خدا یه ملګری مسلمانو محجا هِد وشي
سری یه تلی کې ته شاهد د شوا هدوشي
وګوری ستمیسګار د ازا دی هغه ات کې
وطن وطن به وایم سلګو د ځنکدن کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زړه

زړه مې سينه کې په لړزان سنکاري
ګلشن د ګلو کې زاغان سنکاري

بلبلان زيب کا په ګلشن د ګلو
بې د بلبلو ګلشن وران سنکا ري
ګلشن د ګلوکې زاغان سنکا ري

چې عاشقان شي معشوقو نه جدا
ژوندون د دواړو په خفګان سنکاري
ګلشن د ګلوکې زاغان سنکا ري

(c) ketabton.com: The Digital Library



وصال ارزانه دی د سرپه بدل
دغه دستور راته ارزان ښکاري
ګلشن د ګلوکي زاغان ښکاري

که مري خو مړشه انادي په نامه
مرګ د جهاد په قدر دان ښکاري
ګلشن د ګلوکي زاغان ښکاري

مرګ څو بهتر د غلامی ځني دی
شرمسار سپک پکی انسان ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شهیده!

وینه دې زیب کا لکه لعل د بدخشان شهیده!
دخپل وطن دازادۍ افغانستان شهیده

ستا شهادت دخپل هیواد د ازادۍ په خاطر
دکونډو رنډو یتیمانو خپلواکۍ په خاطر
شه په نصیب دې سبه جنت حورې غلمان شهیده!
دخپل وطن دازادۍ افغانستان شهیده!

که په ظاهره شوی شهید نوم ژوندی پاتې شو
مخ دې تاریخ ته لکه ګل یو ښائسته پاتې شو
د هرچا سر کې لکه تاج یې دا افغان شهید!
د خپل وطن دا نازدی افغانستان شهید!

بدل به وا خلي یو په لس مجاهدان د اسلام
ځانونه سوځي په جهان کې پتنګان د اسلام
سرونه ټول به کړو په دې لار کې قربان شهید
د خپل وطن دا نازدی افغانستان شهید!

واني ستمګار کامه وال چې زیره سینه لرم
په خدای قسم دی زما جهاد ته مینه لرم
ورکړی خدای څو مره عزت دی پخپل شان شهید!
د خپل وطن دا نازدی افغانستان شهید!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شکر خدایه

شکر شکر چې پیدا دې مسلمان کړمه
بیا په دین د محمد اخر زمان کړمه

په مذهب دې د نعمان کړم افتخار دې
ډېر ممنون یم چې لایق دې د احسان کړمه

چې هر دم مې کلمه په خوله جاري وي
فراموش به کله دا په دې جهان کړمه

هسې رنګ احسان دې کړی یم خوشاله
په دې عمر دې خالقه نه شادان کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې نه سیک، او نه هندو او نه بلڅه یم
شکر خدایه مسلمان چې دی عیان کړم

چې پیدا دی مسلمان کړم رضا منند یم
اُمتي دې د هغه ښکلی جانان کړم

په قدم د خپل پېشوامې رهبري کړي
په دې لاره دې خوشاله هم خندان کړم

د وکیل ستمګار ارزو د دوا ړو کوښو
چې حاصله کامیابي په امتحان کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بیرغ

سبه محبت مینه پیدا مې د وطن سره که
حسد کینه مې د مذهب هخه د ښمن سره که

سر خوږې جار د خپل قام ځني شه
شاعرې جوړه مې کلام ځني شه
دهر د ښمن ګکرې خاورې د دهن سره که
حسد کینه مې د مذهب هخه دښمن سره که

ټول افغانان کړی لکه ورونه پښتانه
سبه غوږېدلی د ګلونو پښتانه
نه مجهږي په جهان کې د هر فن سره که
حسد کینه مې د مذهب هخه دښمن سره که

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو اتفاق کې د جهان مسلمانان غواړم
بېرغ او چته په نړۍ کې د افغان غواړم

عمل ملګري مې خاونده د دهن سره کړه
حسد کینه مې د مذهب هغه د ښمن سره کړه

یمه شرمسار بیا کامه وال په رښتیا
قبول مې ربه کړې دا سوال په رښتیا

دازادۍ نفس ملګرۍ څنګ دن سره که
حسد کینه مې د مذهب هغه د ښمن سره که

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپرلی

دامنم چې دې دحُسن باغ سسوړی
هر شاعر دې په ستا ښلوکې مجبوړی

سبه سپرلی دی ستا دحُسن باغ وبڼ کې
یو لحظه دې جدایي ماته تنور دی

چې ستا سترګی مې په سترګو کې راشي
هغه ورځ مې ژوند پښاني د منصوړ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دیدن زما د ژوند یو وسیله ده
خکه زړه مې ستا لیدو باندې مسرور دی

د دنیا فانی حیات به واړه تېر شی
محبت په صداقت باندې ضرور دی

وکړئ مینه محبت د خدای رضا ده
چې راضی پرې پاک غني قدیر شکور دی

پاکه مینه کې پخپله مددګیر شی
چې قادر او توانا او هم غفور دی

ای شیمتاره چې د بل صداقت غواړې
دغه شعر خو تاله هم خپله پېغور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دارمانونو
# دُنیا

زما د مینې قدر دا نه په خندا راغله
دارمانونو دُنیا هغه لیلا راغله

دا تصور دی او که خوب او که دخیال دنیا ده
په نن اکبت د ګلو لخته چې په ما راغله
دارمانونو دُنیا هغه لیلا راغله

چې انتظار به مې کولو په ګلو ګلو سنو
شپې شولې تېرې د غمونو چې سبا راغله
دارمانونو دُنیا هغه لیلا راغله

(c) ketabton.com: The Digital Library



که شوګیر ونه وه د ښوا ه شو تېر په تېره
د خوشالۍ ورځې دي چې په وفا راغله
د ارمانونو دُنیا هغه لیلا راغله

زلفې بالښت جوړې کړه ستمګاره سرېږدېکیده
ستا د عمر ونو ارمان چې دې په خوا راغله
د ارمانونو دُنیا هغه لیلا راغله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داستان

هغه روح ته مې هزار باري سلام دی
چې قربان د خپل وطن په ننګ او نام دی

چې هتریې خپل سر کړی وی دښمن ته
هغه وینې هر زړي ته احترام دی

چې مطلب یې د مذهب وطن دفاع وي
هغه ګل د نوبهار ته مې سلام دی

چې خپل ځان د خپل وطن نه صدقه کړي
دغه قام خو په نړی کښې بس یو قام دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په یا دړا شي د ښمن ته پخپله کټ کې
هغه دم لوېږد لی بویه مات یې کام دی

ننګ و نام، غیرت. همت د افغانان برخه
بعضې خلکو لګولی پرې لیلام دی

وطن کېږد ظالمانو په حلقه کې
مرحمت په مجاهدو ستا انعام دی

لښ د ستلو مقابل کې چې جنګېږی
شفقت دې په اسلام باندی مدام دی

نوم اشار یې په نړۍ کې هسې ورک کړي
کمونست په دې جهان څومره بدنام دی

خدایه په فتحه مسلمان افغان ته ورکړې
مقابل کې د جهان ننګ حرام دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ د فتحې مجاهد وته ښکاره کړې
لاس نیولی مې خالقه صبح و شام دی

زهر ستا یې دعسلو په پیالو کې
چې ښنیا دې په دړ واغو کې تمام دی

یوه ښنه د اسلام هم پکې نه شته
سراسر کار یې سراب و رکړیې انجام دی

ته معاون شې لویه خدایه په جهاد کې
توکل د افغانانو ستا په نام دی

په خاطر دې د همه وار و دوستانو
چې سرحد یې محمد علیه السلام دی

ازادي او کامیابي کړه نصیب برخه
په سر تورې مې را وړي دا پیغام دی
زه ښیښتار یم کامه وال شعرونه وایم
پیر زما حضرت غوث هغه ګلستام دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څه پروا که!

که له سترګو مې خوناب ځي څه پروا که
که د خندکه مې جناب ځي څه پروا که

ما ته خپلو سترګو غم کړلی زړه کې
که د سترګو مې سيلاب ځي څه پروا که

هغه مخ چې د ګلاب ځني ښايسته دی
که مې اوښکې پېچوتاب ځي څه پروا که

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک ژوندکې سوکالي او ارام غواړي
که د او سبکې مې سیلاب څې څه پرواکه

دحسینو جبینو کارجور وستم دی
معشوقې که په عتاب څې څه پرواکه

که خندا که خوشالي حسن اونا ندی
که په برخه دجناب څې څه پرواکه

ای سیمینګاره ! سردیار دسره ځارکه
هرنفس لکه حباب څې څه پرواکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوطن مينه

زه د عشق قانون کې د مجنون په شان وتلی يم
سر به صحرا ګرځم د وطن مينې سبزلی يم

زه د خوب خندا او د هوس څخه پرا وا ګير نه يم
زه د چا د زلفو په دامونو کې اسير نه يم
مينې د وطن کې يو مقام ته رسيدلی يم
سر په صحرا ګرځم د وطن مينې سبزلی يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ته ضرورت د دارو کاڼو د درمل نشته
دا راته ثابته ده چې بې نېټې اجل نشته
غم مې د وطن دی په دې غم کې مبتلی یم
سر په صحرا ګرځم د وطن مینې سېزلی یم

ما ته ناصحان هسې بېکاره انسانان ښکاري
هر طرف ته سترګو کې وطن راته جانان ښکاري
زه د ظالمانو سرو روسانو کې بند لی یم
سر په صحرا ګرځم د وطن مینې سېزلی یم

یا به زه ستمګار په دې نظر باندې کامیاب شم
یا به لکه کب په کړاهۍ کې جوړ کباب شم
مینه کې د مینې په مفهوم زه پوهېدلی یم
سر په صحرا ګرځم د وطن مینې سېزلی یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نادانه زړه

زړه په سینه کې په هردم راته ژړیږي
د ستر ګو او ښکې مې بهیږي

که مې حالات د ځنکدن وي
ستا په لیدو به خدای ته جوړ شمه
یا مې دنیا څخه رفتن وي
ستا په لیدو به خدای ته جوړ شمه

نادانه زړه که صبروم کله صبریږي
د ستر ګو اوښکې مې بهیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتل دې ماته یو دوا ده
ما په فالي لیدلی فال دی

زما به دې باندې رضا ده
ما په فالي لیدلی فال دی

د زړه په درد مې یوازې ته چیله پوهېږې
د سترګو او ښکې مې بهېږي

زما حیات ستا په حیات کې
طبیب د عشق ماته ویلي

د ژوند سمون به زما مات کې
طبیب د عشق ماته ویلي

شعر د ستمګار لکه فانوس غونډې بلېږي
د سترګو او ښکې مې بهېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اقرار

چې زړه مې تالــه ډکــه وه اختیــار رســتا دی
خوشحالي ستا نصیب شه غم دې زمــا دی

حسن دې ونیاکې شته دی خو هسې حُسن نه دی
لکـه د لمر او د سپوږمۍ هسې زیـبــا دی
خوشحالي ستا نصیب شه غـم دې زمـا دی

سترګې نرګس ګلګونه په قلم جوړې چې دي
کتـل هغو سترګو ته طاقت د زړه ګـنـا دی
خوشحالي ستا نصیب شه غم دې زمـا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه نغمه خوان د حسن یې په نظم و سرېمه
بېرې کېنځل دې ما ته زما د وار دی
خوشحالي ستا نصیب شه غم دې زما دی

چې دې سېمگار نه زړګی په رو چشمانو وي
خون مې د یار د غاړې اقرار زما دی
خوشحالي ستا نصیب شه غم دې زما دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تیارسی

دزړه کې سرله تیارسې و لاړه یمه
جهاد له خپې هغه محاذ له خپې د آزادۍ

زما لا لیه څه جهاد کړه
وطن زموږ خپل ازاد کړه
په خلیل الله دې اعتماد کړه
واړه دښمن دې خدای برباد کړه

ته په مورچل کې زه ولاړه په زارۍ
جهاد له خپې هغه محاذ له خپې د آزادۍ

مور په دښمن کې باندې کړه بورې
ورته ښکاره کړه خپله توره
مینه دې ماته ده منظوره
دښمن ویستو نه که مجبوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مجاهد شوې زما ځوک رې د سیالۍ
جهاد له څې هغه مجاز له څې دا زارۍ

زه به راستا یم انتظار
تیوس کې به وکړم ریښتیا ګار
په بل چا نه کړم اعتبار
ځانتو به کړم ستا رغاړې هار

د کامیابۍ اواز دې راشه په تا رې کړ
جهاد له څې، هغه مجاز له څې د ازادۍ
د زړه کې سرته تیار سې ولاړ یمه
جهاد له څې هغه مجاز له څې د ازادۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تجربه شي

که څه تېر شو او تېرېږي تجربه شي
د دُنیا که حال بدلېږي تجربه شي

د سختۍ او تنګ دستۍ وختونه کم وي
نه شیو ته قانع کېږي تجربه شي

د چا زړه لکه فولاد د چا ګلاب شي
انسان طرف ته او بڼي تجربه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه سپړ کړه حوادثو ته چې تېر شي
وخت روان نه ايساريږي تېر به شي

ستړې په يو الله شه په خوديءَ کې
جهان واړه پرې ځه خبرېږي تېربه شي

وخت تابع کړه دخپل ځان مذب مشه
پس دهر شي سباکيږي تېربه شي

مشکلاتو ته صرف يو عزم سپکار دی
هر مشکل دې اسانيږي تېربه شي

مدوجزر سد و رخ په لوی گرداب کې
ستمگار بيا هم خوشالېږي تېربه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا ژبه قلم زما

مینه زما نړه کې مینه مینه د وطن دې شي
دا ژبه قلم زما عادت په دې سخن دې شي

مینه د سر و زر و مال دولت را ځني هر کسه
خوله کې مې سبق سبق نوم د خپل ګلشن دې شي
دا ژبه قلم زما عادت په دې سخن دې شي

خلک که څه غواړي هر څه غواړي دې
زه خو بل څه نه غواړم ازاد زما چمن دې شي
دا ژبه قلم زما عادت په دې سخن دې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما در ته لاسونه خپل نیولي په دوعا چې دي
ستا د نوراني مخلوق په خوله دعه امن دي هغې
داڅ به قلم نما عادت په دې سخن دې شي

بله ارزو نشته د ستمگار او کامه وال په زړه
تېر به خزان کړې چې بهار هغه مسکن مې کي شي
داڅ به قلم نما عادت په دې سخن دې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کوډاکي ته!

زه دې پېژنم د بل په خوم کې رنګه
په ظاهره که هر څه باطن پلنګه

وهه ، وژنه ، لوټ ـ تالان جوړکړه تیار ره ده
یوه ورځ به شي راخلاص دلوی ګرنګه

لکه مخ به کوتې مروړې وخت به تېر وي
بیا پخپله وایه وایه چې وه څنګه؟

لکه اوس چې دې په نورو تنګه کړې
دا دنیا به هم په تاشي یو ورځ تنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څوک بل د ولس ی مرۍ نو څه پروا که
خبر دی تا ته که نن جمع لویه پنګه

مستا سو نوک قدري سور شه چې وبال دی
که نو رڅوک هزاران تېرشو له خدنګه

وخت تېرېږي اعتبار رچا لره نشته
تاریخ ګوره د چنګېز نه تر فرنګه

د افغان اولس به یو ورځ یوا ز شي
ته به پا تې شې خوله وا ز اسمان ته چینګه

دا بهیر د پرګنو او اولسونو
شه ترفیان دارادي له یوه د رنګه

د ستمګار مینه مجاز نه حقیقت
بیا نو راشه سون یدن ئ زده کړه ینګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یا الله

توفیق راکړې په خدمت د بندګانو
پخپل دین کښې محبت د پښتنګانو

هغه مینې ته مې زړه کې مقام ورکړې
لکه وې چې د بورا او د ګلانو

د مجاز او مادې مینې مې سوزان کړه
ما شمار کړې په خپل نیکو بندګانو

دغه زړه مې د دُنیا له عشقه مړ کړې
چې لاړ نه شم په قطار کې د سګانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه کرم اوڅه وایم ټول به ستا وي
د مالك په مخکې څه حال د بندیانو

هسې بخت مې په سر کېښاوه رحمانه
چې قانع وي قناعت کې د شاهانو

دریا اوتظاهر شهرت نه غواړم
په دې خوی خصلت کې خوښ د ملنګانو

د وکیل ستمیستګار زړه کې ته قرار ورکړې
د شم جنسو شیطانانو ظالمانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دزړه برجونه

چې د مجلس یاران مې واړه تار په تار شول
د زړه رازونه انتظار شول

راز به د زړه چاته عیانکړم
د مینې حال چاته بیان کړم
څه محفلونه د یارانو خوار و زار شول
د زړه رازونه انتظار شول

ستا به د ظلم دوران تېر شي
زما به کله د غه هیر شي
جور و ستم دې یو په بل پسې قطار شول
د زړه رازونه انتظار شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د شپېتګار ليکل ويل دي
دچا په غوږ کې اورول دي
دزړه برجونه زلزله کې راايسار شول
دزړه رازونه انتظار شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نښان[1] دازادۍ

خوښ مې نږي کښې نوم نښان[1] دازادۍ
سر و مال مې دواړه شه قربان دازادۍ

نه غلامي پېژنم نه و مه غلام کله
نه مې اورېدلی دی دارنګې کلام کله
ژوند دی په دُنیا کې قدردان دازادۍ
سر و مال مې دواړه شه قربان دازادۍ

زه یمه اَفغان[2] چې مسلمان یمه
لمر غوندې ښکاره په ټول جهان[3] یمه
تاریخ مې شهادت په امتحان دازادۍ
سر و مال مې دواړه شه قربان دازادۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



—

وړکړ دئ اسارت شئ استغنا ر سره
ژوند د انسانوشی د بار سره
جنګیږي په سنګر مجاهدان دانا دی
سر ومال مي د واړه شه قربان نازا دی

یا قدم په لاس کي یا توره په سنګر
دواړه یو جهاد دی وایم په هنر
سیمستاره نام نویس کړه شاعران دازادی
سر ومال مي دواړه شه قربان دازادی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داڅه دي؟

چې لا سونه دې زما په وينو سره دي
بې وقوفه راته بيا وايې داڅه دي؟

ته چې مانه محبت غواړې په زوره
داويل دي بېرته واخله چې کاڼه دي

زه افغان يم محبت د هغه چا کړم
چې جذبات يې د وطن سره خواږه دي

په ظاهر کې سپين سپېڅلي ګرځي او غرغونه
داپه زړونو کې لړمې داخوا ږه دي.

د فریب په غوږو غوږو نه غولېږم
حقیقت کې دا د هر څه نه تراخه دي

خط و سیر دې را معلوم چې کوم خوا درومې
چې څه غواړې سبه پرهېږم چې دا څه دي؟

هېڅ منزل ته نه رسېږې چې کوڼ بار وې
داویل د پخوانو څو مره پا خه دي

چې دعوه د شاعرۍ کولی نه شم
څه غمونه د ستمګار په زړه پراته دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګل ګلاب ته

ګل ګلاب په رښتيا چې ته حسين يې
په ګلانو کښې پاچا ته په يقين يې

مګر ستا مقايسه د خپل دلبر کړم
ما ته ښکاري په دويم نمبر تعين يې

يار ېږي د زخمي زړه ده خفه مه شې
ته يوازې د عاشق د زړه تسکين يې

زه خپل يار ته يم مائل وتا ته نه يم
ولې ما سره په دې سخن بدبين يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا منم چې رنګ او بوی دې دواړه ښه دي
مګر ته زما په یار باندې مئین یې

که دې مدحه په قلم جهان ته پیش کړم
زما یاره په زړه کې باندې سنګین یې

ای ستمګاره! که هزار صفت یې وکړي
ته بیا هم دخپل اشنا مخکې ستوهین یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نه منو!

موږ په هیوادکښې نا انسانه سره روسانه منو
حلقه په غوږ وګوښته غلامانه منو

دغه وطن دښنو زمرو دافغانانو وطن
دا په اسیاکښې د سوچه مسلمانانو وطن
غیرله قرانه بل قانون په دې جهان نه منو
حلقه په غوږ وګونسته غلامان نه منو

زه خو افغان یم مسلمان بل شئ کیدلی نشم
په هیڅو سترګو نږیوالو ته کتلی نشم
سرسپلنی شه دا غیار وځه فرمان نه منو
حلقه په غوږ وګونسته غلامان نه منو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجګا هډیسو کښه سرونه ننذرانه د وطن
بیا په هرلوري لوستل کیږي ترانه دوطن
پیغلې به وایي په مسرو کې چې بل څوان نه منو
حلقه په غوږ وګو نسته غلامان نه منو

ښیمسګانو ولیکه مسری په وینو سري و لیکه!
داتفاق او اتحاد سنبا یسته ناري ولیکه!
دځان ځانی سیلا به مونږه دي په ځان نه منو
حلقه په غوږ وګو نسته غلامان نه منو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بل ګرم نه دی

دګناپېټی مې پر وت په سر دغر دی
ما څوک کړی په هیلو ترینه ونه دی

ملامت یم مخ مې تور او خجالت یم
ښه معلوم ده ته ستا امر معتبر دی

ما د نفس شیطان منلي بل ګرم نه دی
ښه پوهېږم څمکه لاندې اسمان بر دی

بې وقوف چې څوک جسو په زر بدل کړي
دا مثل دین او دنیا ته یو منظر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه توښه ځان سره واخله لوی مشکل شته
زموږ مخکې منزلونه لوی سفر دی

بې عمله به دې هیڅ بل پکار نشي
که زما پیدې لیکلو دې باور دی

بچي دې یو دیوال وي مخ او بل دې شانه
نیک عمل درته بیا هلته جوهراختر دی

زه سیمسار که اشاره کړم تا او بل ته
ځانته وایم په احوال مې خدای خبر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژوند جونګړه

د زړګي سره کړوې مې څه ؟
د سترګو توره څوروې مې څه ؟

د جبین خال دې ګناهګار کړی یمه
په تار د زلفو زنګوې مې څه ؟

بو څلي ما ته مسکا غوندې ښه
ګرانه په هجر سوځوې مې څه ؟
د سترګو توره څوروې مې څه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حیا مهر مې په خوله وهلی
د ژوند جونګړه پرنګوۍ مې څله؟
د سترګو توره ځوروې مې څله؟

د ستمګار سر و مال قربان درنه شه
بلا دې واخلم کږوې ولې مې څله؟
د سترګو توره ځوروې مې څله؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قلم-قلم

بې وفا مې زړه په تېغ قلم قلم که
چې د ستر ګو نه عدت يې زما سنم که

هر قدم چې په ناز ږدي زړه مې ږېړی
د ارفتارې دکوم ځای ځنې رقم که

دا دا او ناز خو نشته سبا پېږو کې
سپين سهار لې ربه مونږ باندې تورتم که

که د قد قامت صفت شاعری کړم
بیا به وایي مخلوق چې دا يې کم که

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسی حُسن خدای ورکړی مې دلبر ته
شاعران يې صفتونه دم په دم کــه

که کړم وقفه شاعري دیار صفت ته
بیا به واړه فشار ونه سبه محکم کــه

چې په وخت کښې د سفر مې حاضر نه شې
دا زخمي زړګی به څوك زما ملهم که

د وکیل ستمګار د زړه ارامه را شه
ستارا ئك ته دې خدای پټول کار ونه سم که

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زمانه

حیا لاړه زمانې نه بې حیا سشوه
پلار د ځوی او موږ د لور نه په ژړا شوه

ورور د ورور د وینو ته ناست په انتظار دی
هغه دغه یې په مینځ کښې تمنا شوه

بې مطلبه یار پیدا به کله نه کړې
که دې خوښه فیصله دغه زمانا شوه

جینک او تېښت به درته کېږي که پوهېږې
ترهغې چې بې حاصله مدعا شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوی هغه دی چې ځان ناپوه کړی
که څوک خاندي د هغه برخه ژړا شوه

قدر نکشته د سرو، پیسې خوږې دي
نازل شوې چې په مونږ دغه بلا شوه

چې نه مینه محبت پاتې شو چا کې
کناره مې خکه خوښه د اشنا شوه

د سیمګار قلم په لاس او بنکې کړیږي
چې د ځای نه شو بې ځای رضا دستا شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څاڅېدل
# سنه دي

مینه محبت کښې د اشنا نه څاڅېدل سنه دي
دا رته د منصور په نزاکت باندې ختل سنه دي

پاکه عقیده او یو اخلاص د ځان ملګری که
نیت د ابراهیم حلالېدل د اسماعیل سنه دي
دا رته د منصور په نزاکت باندې ختل سنه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـر ونهي د واړه په چپل ځان باندی تطبیق کړه
اک واړه اسمونه یا د ول د پاک جلیل سبه دي
ار ته د منصور په نزاکت باندې ختل سبه دي

ه عیش عشرت
ٮا په دغه کار د هر کار نه کـړ بېدل سنه دي
ار ته د منصور په نزاکت باندې ختل سبه دي

ځله ای ستمګاره! څه نو سبه کړه د بازار ځنې
نه کړېد و نه در ته دلته ژړېدل سنه دي
رته د منصور په نزاکت باندې ختل سبه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غوټۍ د ګلو

ځان پې جوړکړی دی په اېنې کښې په چکر راغله
غوټۍ د ګلو په نظر راغله

ستر ګې چې تورې په کجل کړه
رفتار د زړه کښې په مزل کړه
عاشق سيتي په تورا وول کړه

دنیاپېره چې په شکل تېز ه په هنر راغله
غوټۍ د ګلو په نظر راغله

نازه لاده الس ری بیان
هره ته ولاړه یم په انتظار
په کوم طرف به لرې اختیار

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ادب د په نزاکت په کړو وړو راغله
غوټه د ګلو په نظر راغله

هار يې په غاړه د سرو زرو
سترګې په شان د جام هو ګرو
حال مې د مړو ځني بتر وو
پټ څه بچې وې چې په وخت د ماز ديګر راغله
غوټه د ګلو په نظر راغله

ښايسته ګان والا په احترام ده
محبوبې تا ته مې سلام د ی
منظور زه ما که ستا کلام ده
د سپينې خولې خبره خوله چې نه مې بس راغله
غوټه د ګلو په نظر راغله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خیال

چې قلم واخلمه حیران غوندې شم
مینه د یار کې سرګردان غوندې شم

د یار په یاد کې خاموشي کړم اختیار
لاهو د هجر په طوفان غوندې شم
مینه د یار کې سرګردان غوندې شم

سوچ او سودا کړمه جنون ته قریب
د عشق دُنیا کې څه پریشان غوندې شم
مینه د یار کې سرګردان غوندې شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبت وکړلې نادو دې په ما
هر لحظه کښې په خفگان غوندې شم
مینه د یار کښې سرگردان غوندې شم

سیمگار دې ځار د دوه چشمانو نه شه
لکه د سپند د رنه بیریان غوندې شم
مینه د یار کښې سرگردان غوندې شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دسترګو جنګ

یارته کاته مې په لېمو ، غوندې کړې
دسترګو جنګ څه په مزه غوندې کړې

ماته په مینه چې یو ځل وګوري
زاړه رازونه څه تازه غوندې کړې
دسترګو جنګ څه به مزه غوندې کړې

په یو جلوه کښې یې بې ځانه شمه
دا بې هوشي جوړه غمزه غوندې کړې
دسترګو جنګ څه په مزه غوندې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما خو په مینه کې صادق وګڼه
د زني خال دی څه قبضه غوندې کړي
د سترګو جنګ څه په مزه غوندې کړي

رنګ د سیمګار لکه د زعفران غوندې شو
په یو وصال به یې تاڼه غوندې کړي
د سترګو جنګ څه په مزه غوندې کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانستان وطنه!

زما ځیګر زما ښکور زما ایمان وطنه!
د ستړګو تور د زړګي سرا افغانستان وطنه!

ستا د ري لوړو لوړو غرونه قربان
ستا د ګل رنګه سرد رونه قربان
ماته بې حده لې ته کران نکه د ځان وطنه!
د سترګو تور د زړګي سرا افغانستان وطنه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ن ا دی قدر فقط ستا ا فغانان پېژني
نوم او شان دې په نړۍ کښې ټول جهان پېژني
لکه ګلشن د سروګلونو ګلستان وطنه!
دسترګو تور د زړه ګي سرا افغانستان وطنه!

دغدارانو وار تېر شوی ازادي به راشي
کاسه د ظلم چپه کېږي خپلواکي به راشي
قربان مې شعر، قلم، کاغذ شه قدردان وطنه!
دسترګو تور د زړه ګي سرا افغانستان وطنه!

دا به ستمګار او کامه وال وایي ستا
په زړه خفه او که خوشال وایي ستا
چې ستاسې خاوري مې رانجه کړې د چشمان حجه!
دسترګو تو ر د زړه ګي سرا افغانستان وطنه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مناجات

لویه خدایه! په احسان انسانیت را
چې قابل دې د رضاوي هغه نیت را

ما د لارې د ابلیس نه په امان کړې
مناسب ستا عبادت لره فرصت را

شل د پاسه په څلورو ساعتو کې
هر لحظه کې ښه طاقت د عبادت را

ښه په ښو او بد په بدو مې ته پوی کړه
په دې د هر د فانی کښې دا طاقت را

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حرص بدې بلا نه امان غواړم
بس په قوت لا یموت قناعت را

په ټول یو خر وار سره زر مې پکار نه دي
په خپل فضل او کرم دې شرافت را

په بېمګړی سوال مې خوله مېشه وانه کړې
ای مالکه د کونینو سعادت را

چې چار طرف د یوال وي نو رڅه نه وي
ما ستمګار ته پکې هلته سهولت را

(c) ketabton.com: The Digital Library



# راشه!

زما د مینې قدر داني راشه!
غونچې د ګلو مهرباني راشه!

ستا په یاد دون کې لېوني غوندې شوم
د ځانه نیا تې په ما ګراني راشه!
غونچې د ګلو مهرباني راشه!

د خیال په تال کې تصور غرق وم
ناز و ادا کې قهر ماني راشه!
غونچې د ګلو مهرباني راشه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستېي د غـمو نو دي سـبا نه راځي
د تورو شپو ماه تابانې راشه!
غونچې د ګلـو قدر دانې راشه!

داغلې زړه که دستمګار وګـورې
لـړ بې په خوا ګلي خندانې راشه!
غونچې د ګلـو قدردانې راشه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زغم

یو غم نه دی چې بې زغم کړم په سینه کې
رنګ مې تور شو ورته ګورم په ائینه کې

مسافر یم مهاجر پردی وطن دی
څوک د چا به شي ملګري په تنګسه کې

چې به موږه پرې ګورګورې سنله و لې
هغه ځوی شو په ګړۍ سا ننیه کې

چې تحلیل او استدلال ته یې حیران وم
مو حق ګورم د خروار په نمونه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما به هلته کې عدن بللو له ورایه
اعتراف په خپل افراط کړم دقیقه کې

خپل لیکلي او ویلي به به ته اخلم
که د دار رسی ته ځم دغه لحظه کې

ما وی دامې د بابا پښتون اولاد دی
سمندر ګورم یو دانه چینه کې

که څه او رم پایې ګورمه ستمګار یم
دنړۍ په بازار ګیر یو صحنه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طبیبه!

هره ګړۍ د ښو وتون ماته یو خطر غوندې دی
زما په زړه د غمانو څه اثر غوندې دی

طبیبه! ماته د علاج په امید راڅې نه شې
زما مرض د محبت هسې اَبتر غوندې دی

مرض د مینې ته لقمان د زمانې شي حیران
تش یو کتل د دوه چشمانو د کوش غوندې دی

چې په محفل کښې ورته نه ګورم د سر په سترګو
چو کاته د عشق کښې دغه کار د یو هُنر غوندې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې په سترګو کې شي ونږې محبت زړه وي
عجیبه باب دی چې رنګینه سراسر غوندې دی
زما پر زړه د غمازانو څه اثر غوندې دی

که زه ستمګار یم انتظار مې ستا د دوه سترګو دی
راوړه دیدن په څه ګډن چې حال بتر غوندې دی
زما په زړه د غمازانو څه اثر غوندې دی
هر ګړی په دړوندون ما ته یو خطر غوندې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# برخه

لاس چې اوږد کړمه گل ته خار نما شي
گل شي پاتې خاص اغزی برخه زما شي

چې مې طمع د وفا د خپل صنم کړم
دا جملې راته همه واړه جفا شي

که د ترکو طاڅې نه وفا غواړې
سر په خاورې به دې هسې تمنا شي

اُمید ونه دې خیالونو کې هیجان کړي
بې مقصده به دې څوک وایه اشنا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم شاهان او سرکشان لاړه ارمان کې
فکر مه کړه که پوره دې مدعاشی

چې فاني دغه جهان دی سبه پوهیږم
بیا به څه اُمید دې دې نه دو فاشي

چې مرګ مونږ له دې پیدا او مونږ مرګ لــه
څه نادان یم چې په دې خوله مې خنداشي

زه ستمګار دې صرف رضا غواړم رحمانه!
که قبول له مې په درګې ستا دُعاشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جونګړه

عمارت مې د ژوندون په لمنه ږدو ښکاري
دا جونګړه مې د خيال په رنګېد و ښکاري

عمر تېر شو مګر پوی نهٔ په حساب نه شوم
د فاني دُنيا د کاره اِجتناب نه شوم
خزان راغی د ابهار په تېرېدو ښکاري
دا جونګړه مې د خيال په رنګېدو ښکاري

نه تائب شومه د بدو توبه ګار نه شوم
د دې دهر د لانجو ځنې ون ګار نه شوم
حرکت مې د بې وسو په سکېند و ښکاري
دا جونګړه مې د خيال په رنګېد و ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه به وایم سهوه شوی ملامت یمه زه
لویه خدایه! تا ته ډېر زیات خجالت یمه زه
عمر تېر شو د شیمه ستار ستا په خوښکاري
دا جونګړه مې د خیال په رنګیدو ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څنګه به شي؟

ستمګار که ستا د باغ مالیار شي څنګه به شي ؟
لاس که مې ستا د غاړې هار شي، څنګه به شي ؟

چې خوله په خوله غاړه په غاړه شو زما محبوبې
چې زخمي زړه مې په قرار شي څنګه به شي ؟
لاس که مې ستا د غاړې هار شي څنګه به شي ؟

د بر و وعدو دې لیوني کړم مه نور
صرف نظر که انتظار شي څنګه به شي؟
لاس که مې ستا د غاړې هار شي څنګه به شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناز و ادا او کرشمو نه دې ځار
باقي حيات که مې بهار شي خنګه به شي؟
لاس که مې ستا د غاړې هار شي، خنګه به شي؟

ژوندون زما کړو رقيبانو خراب
په يو وصال که دې ګلزار شي خنګه به شي؟
لاس که مې ستا د غاړې هار شي خنګه به شي؟

ستمګاره يار ته سوال زاري که وړاندې
يار په رښتيا که زما يار شي خنګه به شي؟
لاس که مې ستا د غاړې هار شي خنګه به شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خیرې ګرېوان

یا خیرې ګریوان وی لیونیانو سره وی
یا په یو ځنګل کې ملنګانو سره وی

دې د غم دُنیا کې څه قرار نشته
غم د پاسه غم بل انتظار نشته
هسې رنګ دُ نیا نه چې مرغانو سره وی
یا په یو ځنګل کې ملنګانو سره وی

نه په ځوی او ورور باندې باور لرم
نه خو سره سپین او نیا زېور لرم
سر نه ددې ځمکې د ماهیانو سره وی
یا په یو ځنګل کې لیونیانو سره وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه د چا په مدحه او په هجوه کې څه کار لرم
نه یو توکل په خپل خالق غني غفار لرم
یا لوی شوی سوی ماشو ما نو سره وی
یا به یو ځنګل کښې ملنګانو سره وی

داد ستمګار برخه مقرره د ازل نه شوه
مینه بتوله مینه ماته جمع داویل نه شوه
شیه او رځې بیوځای پتنګانو سره وی
یا په یو ځنګل کې ملنګانو سره وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دغم غشي

زما ژوندون دیار ژوندون دی ترلی دی
دا زړګی مې دګو ګل ځنې وتلی دی

خلکو ماته ملامته په هېڅ شان مه کوی
کم و زیات راته په مینه دجانا نمه کوئ
توول بدن مې د اشنا مینې سېزلی دی
دازړګی مې دګو ګل ځنې وتلی دی

نصحت ماته په عشق کې یو بلا ښکاری
څه به وایم چچل حیات راته ګیا ښکاری
مادزړه په سردغم غشی خوړلی دی
دازړګی مې دګو ګل ځنې وتلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یوه لحظه په مینه کې دیار ځنې جدا شمه
هغه دم به له دُنیا ځنې فنا شمه
دا گوهر مې په حپل او سنکو کې موندلی دی
دا زړ گی مې د گو گل ځنې وتلی دی

د ستمگر کامه وال ژوند ته یو نظر وکړئ
غمازانو خدای د پاره لر خطر وکړئ
په دی لار کې مې د ځانه لاس وینځلی دی
دا زړ گی مې د گو گل ځنې وتلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زړګی

ژاړي زړګی ژاړي په هیڅ شانې نه صبرېږي
اوښکې که شي وینې په څه شانې نه سړېږي

لیدلې وه د وه ستړګو زړه خوشاله پرې دوار شو
باران د اوښکو جوړ شو ولې خپله نه ړندېږي
اوښکې که شي وینې په څه شانې نه سړېږي

که زړ تسله ورکړې خپل زړګي ته عبث خیال دی
دوه زړو نه چې یو شي به بل شي کله غولېږي
اوښکې که شي وینې په څه شانې نه سړېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار دعقل نه دی عاقلان پکې راګیر شي
دمینې په جهات کې سنور شیان کله خرڅېږي
او سبکې که شي وینې په څه شانې نه سرېږي

کچکول مې دی په غاړه، تیمګار په ګدا سیمه
سترګې مې په سترګو کې دسترګو نه شرمېږي
او سبکې که شي وینې په څه شانې نه سرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بابا کور

زما په زړه کې ډېر خیالونه شته دی
ازاد وطن مې اُمیدونه شته دی

ماته چې را نشي د روح د اخستو په خاطر
ژوند بل ژوند مې ارمانونه شته دی
ازاد وطن مې اُمیدونه شته دی

مال مې د سر نه شه قربان سر مې حیا ځنې شه
د پښتو په عنعنه کې دادونه شته دی
ازاد وطن مې اُمیدونه شته دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا ازادي يا شهادت دى عقيده د افغان
تاريخ شاهد په كتابو نو سندو نه شته دى
ازاد وطن مې اميد و نه شته دى

پېغلې ځوانان په يوسنگر كې ځي جهاد له د روى
ډېر د غونې، او د ملالې رواجونه شته دى
ازاد وطن مې اميد و نه شته دى

ستمگاره! تېر به افغانان د خپل سرو ځني شي
كور د بابا كې شنه زمريان او غيرتونه شته دى
ازاد وطن مې اميد نه شته دى

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اُمیدوَنه

څه چې اشنا وايي هغه ګلونه شي
بېرته اُمید وار مې امید ونه شي

پیغور موسکا خندا مې زړه خوشاله کړي
تېره شېبه نه وي بیا غمو منه شي
بېرته اُمید وار مې اُمید ونه شي

هغه له سونا راغله سودا یې به شم
ژوند مې په ژوندون کې هغه ټول سوځو شي
بېرته اُمید وار مې اُمید و نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله خان مجنون کله فرهاد جوړ کړم
مځکې مې جنون او هڅه غــر و نــه شي
بېرته اُميد وار مې اُمـيـد و منه شي

ژوند شو د سیمیستار دهوسې اومیږتون قصه
ودېک مې په چشمانو کې خــوبــو نــه شي
بېرته اُميدوار مې اُميد و نــه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځوانانته!

چې درکړې خدای ځوانی او روغ صورت دی
د وطن په تا فرض شوی دا خدمت دی

امانت درته نیکونو دی سپارلی
په نامه چې د وطن هغه جنت دی

ته چې خوب په خپل بستر کوې بې غمه
ولې یاد نه دې وتلی وصیت دی

خوب خندا په ځان حرام کړه که ته ځوان یې
په گلشن دې دزاغانو حکومت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړې تلې په پرستن کې روح دې لاړشي
په جهاد کې ښه مقام د شهادت دی

چې دې سر د خپل وطن نه صدقه کړو
منظور شوی دې الله ته صداقت دی

په مزار به دې میلې وي ای شهیده!
تازه کړی تا په خون اسلامیت دی

که دې غوږ په دې خبر وه نه خلاصېږي
دومره وایم چې ځوند نه دی خجالت دی

د سیمیستار کامه وال سوال په ځوانانو
سبا ورځ د هر سړي خپل دیانت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ پَیسُو دَوُرَانُ

هرڅه شو پاتې اوس دوران شو د پیسو
لوی واړه ټول سرګردان شو د پیسو

پیسې کېنه، پیسې پاڅه بل څه نشته
نوم یې څومره قدر دان شو د پیسو

ورور د ورور پلار د ځوی ځنې جدا که
قبله د نوي سوران سو د پیسو

نه پوهېږي نسب شته نه د علم
جهان واړه یو کاروان شو د پیسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو قدم به خدای د پاره ښوک و اخلي
زمانه کې ټول یاران شو د پیسو

که خپلوي رشته داري ده هم غرض[۱] دی
خپلوي نشته ټول خپلوان شو د پیسو

چې «الف» او بې به[۱] هم لوستلی نه شي
ورته ګوره جوړ لقمان[۲] شو د پیسو

په سیمسګار[۲] چې اعتراض کولی نه شي
دا بیان یې یو داستان شو د پیسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژوندون

ژوند د معنا په لحاظ يوڅه خوړل نه دي
هسکو ټکالو سره يوڅه خندل نه دي

ژوند خولو يدو ځګېدو ته وايي
بل ته په طمعه کينا ستل نه دی

کوشش زحمت تکليف په ځان تېرول
بل ته د سوال په اميد خوله لاس نيول نه دي

ژوند نه هوس او نه شراب او نه کباب ته وايي
ژوند لوټول، ځان مړول د بل وژل نه دي

ژوند خو آزاد يو لحظه د ټول جهان قيمت دی
انسان غلام پېړی په غاړه کښېدل نه دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند اتحاد او اتفاق ته وايي نه په ځانګړې صورت
په ځانځاني کښې د ژوندون خوشحاليدل نه دي

اسلاميت دى ژوندون، افغانيت دى ژوندون
پردى فرهنګ کښې د خپل ځانه ورکېدل نه دي

ژوند د حيا او د عزت او ديوبيت نوم دى
لکه ماشوم په قطره نان خوشحالېدل نه دي

د ژوند هر دم او هر قدم ځانته حساب وکښه
تش د هوا په يو نيلي کښې سورېدل نه دي

د ژوند يادګار دي په قلم او په عقل پرېده
سيمګان؛ عمر د ژوندون پوره کول نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اشنا ګوتې

څه عجب ملهم دی زخمی زړه ته د اشنا ګوتې
مالګه پکار دی سراف یوازې د لیلا ګوتې

زړه د حال په ژبه د اشنا اظهار کوي
دم قدم لحظه کښې د صنم خیال انتظار کوي
رابه شي دلدار نن ما ته به کړي حنا ګوتې
= تکرار =

حُسن د حسینو په نقاب څه پټېدی نه شي
زړه د عاشقانو په دی کار څه صبر یدی نه شي
خال د ابرو پر بده ماله ستا ګوتې د وا ګوتې
(تکرار)

هر اندام دی دی ګُل لکه غوټۍ چې د ګلانو وي
شمع چې بلېږی څنګه حال د پتنګانو وي
سوزي به په اور کښې ګرانه یاره دا زما ګوتې
(تکرار)

شعر دی که جنون دی د سیمګار او کامه وال به لیکي
اه، دی که فرهاد دی زما سګر سرایوال په خو له
اخلم قلم اخلم چې اشناشی په اشنا ګوتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دیدن

په وجود کښې مې اور د عشق وشاق دی
یو دیدن ته د آشنا مې زړه مشتاق دی

هغه زلفې مې په لاس کښې یو ځل راشه
چې له فیضه یې معطر واړه آفاق دی

چې نه توپ نه یې جهان نه یې لښکر شته
د حسینو خلکو څومره طمطراق دی

چې په عقد د عشق ناوې په نکاح که
ننګ و نام نه یې په هغه دم طلاق دی

د ښایسته‌و طائفې ته عزت ښه یه
د عشقو ترو ندونا هسې په ملاق دی
د حسینو سترګو څوک دې نوکرنه دی
چې یې مخ لکه پیروی یا قیماق دی
دا کېدی شی چې سیمګار دې لایق نه وی
خوبانې دې ما ته هسې حفت و تاق دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بڼو غشي

د بڼو غشي برابر مې په تمه و لګېد
بیا په ځیګر و لګېد - د زړه په سر
زړه مې سوری ستا جدایي کړو
زارې زارې ستا اشنايي کړو
بې صبره سترګو مې نظر دستا په در ولګېد
بیا په ځیګر و لګېد - د زړه په سر
زخم ناسور دی نه جوړېږي
وینې د زړه مې څڅېږي
ساده زړګی مې د اشنا په یو نظر و لګېد
بیا په ځیګر و لګېد ، د زړه په سر
کچکول پخاړه د اشنا پسې ځم
خیرات د حُسن تمنا پسې ځم
بخت مې په سر شوخې نظر مې برابر ولګېد
بیا په ځیګر و لګېد د زړه په سر
نه کامه وال سیمګار شعر نه لیکم
قانون د عشق کتابونه لیکم
غزل د مینې که جادو او یا منتر و لګېد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توبه

زما توبه ده توبه د بدګفتارۍ نه توبه
د بې وقوفه هغه دوست هغه نګاره توبه

چې به دوستي یاري کوي د یو مطلب د پاره
هسې تګمار د بنګالې تګو و تګمارۍ نه توبه

لاس په لستوڼي کښې ساتي لاس به هیڅ نه وړي
دغه تور مار دی د لستوڼي دغه مار نه توبه

په چاول کښې بېنه ماهره نه دي سنه پېښ شم
د کاغذ ګل ستا د دې ډول، سینګار نه توبه

په زړه یو ه په خوله دي بله او ر بد لي شمه
هسې شیطان، هسې ابلیس هسې مکاره توبه

سیمسګار دی کړې دی تشخیص شاعرانه تشخص دې
د مداري د رنګا رنګ هغه ګفتار نه توبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سترګو ګاټې

د سترګو ګاټې مې خوږ بڼی شوګیرونو سره
جانانه بیا، بیا بیا د ډېر غمـــو نو سره
ورځ په سودا شپه انتظار شی
کټ او بستر راته جوړ خار شی
زړه می عادت جوړ سمندر شو د موجونو سره
جانانه! بیا، بیا، بیا د ډېر غمونو سره
ناز او ادا دې کړم سرسام اشنا
تا ته ولاړ یمه نه لاس په نلم اشنا
لېونی کړم نن سبا دغه سوچونو سره
جانانه! بیا، بیا بیا د ډېر غمو نو سره
وعدې دې ټولې خامې ثابتې شوې
ورځې جوړې، جوړې افسانې شوې
پړی په غاړه به سیمستان شی د عُذنونو سره
جانانه! بیا، بیا بیا د ډېر غمونو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امتحان د زمانې

ناکردو کړمه پرېښان د زمانې
زړه چاودلی یم حیران د زمانې

په سوچونو په چرتونو قیص ته ورته
ګدا ګر شول شاهان د زمانې

اقتدار شو د نااهلو په منګولو
هر اشراف شو په سوران د زمانې

څوک په اوښکو وینو ژاړي ورته ګوري
پاتې شوي یې کاروان د زمانې

د دنیا په دې بخرنجه لوی ګرداب کې
حق حیران شي انسانان د زمانې

عُمر کم وی د انسان خواهشات ډېر وي
هر بیان کړی ارمان د زمانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ژوندون وی روغ او جوړ وی خوشحالېږي
ورنه هېر تور ګورستان د زمانې

زړه نه بېلی ور خطا حیران سیمګار دی
کشمکش دی بن کښې ده امتحان د زمانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مه کوه !

ګرانه باور په دی ش وندون مه کوه !
خلاف د حکم د قانون مه کوه !

چې سترګی پټې د اجل په خوب شي
بیا دافسوس ارمان لټون مه کوه!

هغه سردار، هغه نامدار چې ملا هم و
د دنیا مینه په لمون مه کوه!

شاهان ترې لاړه په هوا چې به تله
اوس عادتونه د قارون مه کوه!

لکه په خوب کښې چې څوک خوب وګوري
قیصو د ژوند ته ځینې خون مه کوه!

د چامانی چې د نګې د نګې ګوری
بې د قسمته خپل تاعون مه کوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قناعت کښې دې ژوندون تېر و ،
دبل په بښخه حال نـ ســو ن مه کوه!

سپــګاره ! تېره شو تېر به شي دُ نيــا
رنګه فِلم دی جنــو ن مه کــوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سل افسوسه!

اې زما پښتنو وروڼو عزيزانو
اې زما د سترګو تورو په په ماګرانو

د آموږ نه تر کومه حده چې پښتون دی
په ډګر کښې د سياست چې څه ژوندون دی

دښمنان دی يو په بل مو جنګوي
مطلبونه هر يو خپل پوره کوي

يو د بل پسې اهم يو دا مو کار دی
تا ويلي ما ويلي داروڼ ګار دی

سکه څوک وي د کاکا وا يو تر بور دی
سل افسوسه د پښتون په دې مذکور دی

نه د مشر احترام شته په هيچا کښې
نه په کشر شفقت کورمه ستا کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدبيني ده که حسد او که کينه ده
دغه ښتوله د پښتون دلاس الـــه ده

که يو موټی مستحکم قام د پښتون کړې
د سيمستار دُعا قبوله په ژوندون کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګلونه

ته کوم ځای ګلونه جنګوونه شی جوړ
ته وونه چی بد شی نور کارونه شی جوړ

هر خبره کښی لږ سوچ دی یکار
دلدی ژړبی نه غمونه شی جوړ

انسان تابع وی دا حسان په بدل
ګوزار د خولی نه ډیر زخمونه جوړ شی

خبری لږی خو خوږې دی یکار
د ډیرو خبرو، نه درد ونه شی جوړ

خاموشی ښه ده که دی خوښه راشی
د کم ویلو نه ګلونه شی جوړ

سیمستاره! لږ لیکه مزیږ سره شعر
چی دی خبرو نه شعر و نه شی جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توره او قلم

پخپله توره او قلم کښی ولولی را وله
کوره د دښمن کښي بی اندازه زلزلي راوله

تاریخ د ستا په باباگانو افتخار کوی تل
ذهن او فکر ته دي مخه تجلی را وله

نوم د اسلام او د افغان جهان خپل فخر گڼی
هر یو بدخوا ته دي په تن قهر وخولي راوله

په یوه چغه نوم د الله اکبر و وایه
بیا نو ولولی د آزادی دي دلیلي را وله

خلک تاریخ کښي کارنامی دي د نیکونو گوري
څرخ د تاریخ کښی د آزاد وطن نغمی را وله
سیمستاره شعر دي په خوږولو به تر خوکړه رنگین
د ظالمانو په وطن د غم مسالي را وله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاعر

چې له غمه او له درده څوک شاعر شي
یو الله د ده د زړه په حال خبر شي

د مظلوم په حال باران غونډې ژړېږي
هر ابر چې ئې د سترګو په نظر شي

د ظالم خو طرفدار په هیڅ شان نه دی
که په ژرنده کښې مېده یې پښې او سر شي

نرم زړه او خوږه ژبه د شاعر وي
ای صاحبه! که په دې شعر دې باور شي

مرغلره نایابه عجب کار دی
چې موندې یې په کرم د پاک اکبر شي

نه د هر چا وي لیواله چې شاعر شي
نه و سلو کښې یو کس وي بختور شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه په زور ده نه په مال نه په دولت ده
نه کوم کسب نه کمال چې میسر شي.

زه سیستانی د هر شاعر قلم بوسي کړم
ارزو منديې د کمتو که برابر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بدلې

تاچې کړې خپلې اراده بدلې
قلم زما کړې افسانې بدلې

تا سمه لار کښې کوم نقصان لیدلی
په جفتو تاقه دې کړې بانې بدلې

هسې شف شف ته شفتالو وا یه
ښکارې په ذهن دې نغمې بدلې

خاک ذهین شو تبرخو ړلی نه شي
تاریخ به ستا کړي سوانې بدلې

څه چې تېر بڼي تول شبتې ی وایم
قضا خورې کړې انګانې بدلې

څه چې کړي هغه ریبل دی پکار
سیمیتار دې ګوري ورځې شې بدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سودا

اور بل دي جوړ که په آئینه کی دشاني سره
سودا د سر کومه ستا یارانې سره

زړه مې بایللی ستا په ځان دی
دغه جهان راته زندان دی
رود مې دسترګو نه روان دی

مرض مې واخستو دا ستا هرې بانې سره
سودا د سر کومه ستا یارانې سره

منم چې حُسن دګا بسیار دی
هریو سړی دې خریدار دی
غم دی زما په سرانبار دی

لکه دشمعې و یلې کیږم ستا تانې سره
سودا د سر کومه ستا یارانې سره

یا خو دې لاس ماته په لاس را
یا دې د سرو لبو بوسه خاص را
بنګلې د عوت راته یو خاص را

سیمګار دی مینه کې عادت شو سره ۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوب کښې

پښه نیولې په رفتار شه بیا به ځي
څه خوماته په ګفتار شه بیا به ځي

چې د یدن دې په دې خپلو سترګو کړم
یو لحظه خو په قرار شه بیا به ځي

د زخمي زړه ګي ارمان زما پوره کړه
لږ ملهم مې د پرهار شه بیا به ځي

سر و مال مې ستا د حُسن صدقه شه
یو ساعت بوسه کِنار شه بیا به ځي

یو ارمان مې ستا وصال دی په جهان کښې
په خوبانو کښې نامدار شه بیا به ځي

جدائي خدای پیدا کړې ی په جهان کښې
تلوار مه کړه په قلار شه بیا به ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامُید نه او مید و نه پیدا کېږي
راشه کېنه په تلوار شه بیا به ځي

سر مې ستا په غیږ کښې پروت او سلګوی
لاس دې ایښی په سینګار شه بیا به ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا دُنیا دهٔ

پس فطرت مکر جنه دا دُنیا ده
نه دې ستا نه دې د پلار او نه زما ده

دا مثال دیو لولی ده فریبکاره
څه به وایم د هر چا نه بی وفا ده

چې دنیا نه وفا غواړی نادانان دی
دا خبره زړه اوړون باندې صفا ده

دګو نګټ مثال زموږ دُنیا پرستو
ولې دومره یې دُنیا ته اشتها ده

د حرص په غلبه کښې مرګ را یاد کړه
قناعت کښې سعادت د خدای رضا ده

څه ګټل او څه خوړل څاور کول شته
هسې تول جمعه کول پیشه د چا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ژوند مې لکه باد غوندې تېرېږي
ستا د خپل حیاته خوږه تمنا ده

ای سیمستاره ! تش تحریر څه هنر نه دی
بې عمله لیک لوستل واړه سودا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما زړه

مين شوی په جانان دی زما زړه
له دې غمه په لړزان دی زما زړه

مايې مخ ته فقط يو ځلي نظر کړو
اوس هر دم راته ګريان دی زما زړه

هيڅ پوه نه شوم سترګو وليدو زړه لاړو
اوس مدام په هی سوران دی زما زړه

که زر واري ورته هڅه د غنه وکړم
په دوه سترګو بنديوان دی زما زړه

زړه مې وړی په جادو دی دوه چشمانو
چې په غشو يې نشان دی زما زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوب رویان که د جهان ورته ښکاره کړم
فقط یار ځ پسې نالان دی زمانه

که کړېږي او ځورېږي پروا نشته
په غمونو کښې خندان دی زمانه

سیمستار وايي چې خفه مه شې دلبره
مال وسر مې ترې قربان دی زمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ارمان

باغ د ګلو چې بهار وی خوچې وی
ناست په څنګ کښې دلدار وی خوچې وی

شین چمن وی یو رباب وی په شابان ترنګولی
نوی نوی کمپوزونه په نغمو مې غبرولی

ځوندانه د وی په قرار وی خوچې وی
ناست په څنګ کښې د دلدار وی خوچې وی

سبه ځوانی وی، بې غمي وی، زیبائي وی داندام
خواهشات وی، ضروریات وی، مکمل وی ټول تمام

د خوبریو انتظار وی خوچې وی
ناست په څنګ کښې د دلدار وی خوچې وی

چې نه ظلم نه ظالم وی په دنیا کښې د الله
قناعت وی سعادت وی دیانت وی په هر ځای کښې الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس دکس نه په قران وی خوچی وی
ناست په ښنګ کښی د دلدار وی خوچی وی

بس سیمستار وی خپل ئی یار وی یو دید وی د جانان
هر څه نرو وی مکمل وی نه تنګسی وی د جهان

فقط نه وی یار می یار وی خوچی وی
ناست په ښنګ کښی د دلدار وی خوچی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غم د یار دی

صبر اکړی یا صابره! غم د یار دی
هغه یار چې هم عاشق او هم دلدار دی

زه په ده باندې مین وم دا یې ماوه
نن د هغه یار زما ځنې فرار دی

که د زړه نه مې چک چک وینې بهیږي
دغه زخم د زوزاد سنو مي پرهار دی

که عالم مې لیونی سودائي بولي
دغه ماله څه عار نه دی افتخار دی

ته بې شکه یې صابر صابره خدایه!
د کومک دې تمنا کړم غم دشوار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې درد مې په زړګي کښې بې اندازه شي
وايم داچې دا جهان مې زړه بار دی

غم دې هسې په ظاهره زړه سوری کا
صیقلي زخم د ناسورشی ناقـــرار دی

مونږه بتولوته په غم کښې صبر راکړي
سوال کوونکی په درګاه کښې د سیستان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستا د حُسن

زړه نما ړه بې منت یار دی ستا د حُسن
دم په دم راته خواستګار دی ستا د حُسن

حُسن ټکي دي په شمار دي د ربې جهر مونه
ډېر مخلوق ترې نا قرار دی ستا د حُسن

هر مریض نه چې پوښتنه د مرض کړي
عالم کل واړه بیمار دی ستا د حُسن

څوک د زلفو په ار سوبا ندي تړلي
چا څوک پړلي یو ګوزار دی ستا د حُسن

څوک پا نبي ته دي ولاړ په تخته باندي
دم قدم یې انتظار دی ستا د حُسن

چې ژوندی په مرو حساب دی ورته ګوره
د اسیمګار یو خریدار دی ستا د حُسن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مه وایه

چا ته د دنیا کښې په هېڅ شانې څه پېغور مه وایه
چې دې د پلار او مور ته نه وي ورته ورور مه وایه

پر دې زمان کله خپلېږي نصحیت که اورې
چې خوږ دې نه وي د بل لور ته عبث خوږ مه وایه

زمانه تګه شوه سازش د زمانې شو ذهین
په رښتو سترګو ګرانه ورور سپین ته تور مه وایه

دنیا فاني ده د میلمه پشانې شپې تېروه
فاني جونګړې ته دې کور او زما کور مه وایه

قام ته دوچڅوي او سبان چې په هنر جوړوي
هسې غدار، هسې وا کدار ته څه غمخور مه وایه

چې سر یې سپین، ږیره یې سپینه زړه یې ځوان ښکاري
شاعره مخکې د سیمسار نوې درې څلور مه وایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پهٔ ژړا

زړگی زما شو لو عادت په ژړا
چې دا شنا نه شوم رخصت په ژړا

او سنکو مې لارې مخ کښې جوړې کړلې
پاتې مې نه شو لو طاقت په ژړا

جرگه د او سنکو مې اشنا ته لیږم
و به کړې دوا ره مصلحت په ژړا

عجب تاثیر دی محبت کړی دی
ما ته پیدا شو سهولت په ژړا

رنځ و کړاو د هر عاشق په برخه
کله حاصل شي وصالت په ژړا

ژاړه چې ژاړه دکا مې سیمیا ۱۵۷
نکړې پروا ماه طلعت په ژړا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوښ یم

سوځېدلی دي د مخ په لمبو خوښ یم
انتظار دي د محل په تمبو خوښ یم

انتظار سره تکلیف تېر لی بویه
خوش نصیب یم چي په هسي سبو خوښ یم

که پتنګ په سر و لمبو کي الفت غواړي
زه د او سنکو په لېږ لو خبر ګو خوښ یم

تش ګو ګل یم زړه مي نشته په سینه کي
د رباب غوندي پخپلو نخمو خوښ یم

هسي صبر خدای را کړی دی په عشق کي
په لیدو یې تش د دوه انګو خوښ یم

زه سیمګار خدای صفت خوان د حسینو
دم قدم کي زه د شعر په لیکو خوښ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ساقي جانجانا

ساقي راکړه سره شراب د يار د مينې
چې نښه شمه اشنا بهار د مينې

اوانونه دي خوانه د کنډ ولو ستا
ستا خبرې شوې عسل گفتار د مينې

نيت مې کړی ميخانه دی ټولـه نوش کړم
سور به نه شی دغه تاو انگار د مينې

دوه لاسی د رته سلام کړم ساقي جان جان!
وينې ځاځی مې د زړه پر هـار د مينې

که په هسې جوش خروش کې مې يار وليد
دويم يار بد شی ساقي نيگار د مينې

پته خوله لکه غوټه شاعر د مينې
غوړ به د وته د ی تيار سيمگار د مينې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیاقت

تش شهرت مې دی موندلی په جهان کې
د نړۍ قدر د لیاقت نه ګورم ځان کې

مهار کړی نفس شیطان یم په دی دهر
کاذب نه یم په لیکلو د بیان کې

څه په ستړګې، غوږ لرو کار تر ې نه اخلو
لکه بُت په رښو ستر ګو چُپ د ځان کې

تشې خولې باندې نمری نیسو لکې نه
صوابي صفر د عمل په امتحان کې

د بنده احتیاج کوو عجب رواج دی
او زده نه شو په دربار د شاجهان کې

زه سیمګار چې حقیقت ته خپله ځیر شم
دغه ټول ملامتي وینم په ځان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

طوفان د ستر



# طوفان

دسترګو او سکي مي مخ باندي طوفان جوړوي
یو بل جهان جوړ وي
د یار د مینې

دسترګو او سکو کړم خراب اشنا
ستا محبت کي زه کباب اشنا
وایم رښتیا نه یم کذاب اشنا
ستا جُدائي راته په ژوندکي لوی خفګان جوړوي
یو بل جهان جوړوي
د یار د مینې

طاقت مې نشته د فرقت ستا
کله لایق د محبت ستا
داګر مي جان ه طبعیت ستا
هره ګړی یو نخشر دی تور زلفان جوړوي
یو بل جهان جوړ وي
د یار د مینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال لو زاري نما عادت شو
ولې دې ما څخنې نفرت شو
نما غريب دغه قسمت شو
د زړګی سره داکار ونه پاکه سبحان جوړې
يو بل جهان جوړوی
د يار د مينې
يا به سيمستار يا کامه وال شم
يا لېونی يا به په حال شم
که لمن دې پوی زه په احوال شم
د یاره ګېټ هره کوڅه راته زندان جوړوی
يو بل جهان جوړوی
د يار د مينې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ترڅو؟

زړه زخمي چشم گریان به یم ترڅو؟
ستا د لاسه په خفگان به یم ترڅو؟

زه کتی دې اشې ستر گو ته ته سشم
په هیبت او په لړزان به یم ترڅو؟

دېتنگ غوندې مې ژوند په سر لمبو کې
گه د هجر په نیران به یم ترڅو؟

د داغلي زړه مې لر څه پرسان وکړه
له ریبا ره په پرسان به یم ترڅو؟

که منل د غمازانو دې عادت وي
سر و مال له تا قربان به یم ترڅو؟

زه سیمتګار کامه وال او ښکې وینې څاڅم
در په در خیرې گرېوان به یم ترڅو؟

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**